سويډني پښتو

ګرامر

ترجمه او ترتيب کوونکئ: عبدالعلي رسول زاده
۲۰ ـ ۱۰ ـ ۲۰۰۸

د سویډني ژبې ګرامر

د سویډن په نني درسي اصول کې د سویډني ژبې د ګرامر تدریس ورځ په ورځ له منځه ځي. په کښته ټولګیو کې ښوونکي خپلو زده کوونکو ته د اسم(نوم) ، فعل ، ضمیر ، صفت او ځیني نور ګرامري نومونه یادوي. د ژبې پوهان په دې نظر دي چې ژبه باید د کوچنیوالي څخه په طبعي توګه زده سي .

د هغه تجربو له مخې چې د یوه پلوه ما په خپله د سویډني ژبې د زده کړې په وخت کې په لاس راوړې دي او د بلې خوا د خپلو پښتو ژبو څه لویو زده کوونکو سره د سویډني ژبې د ور زده کولو په وخت کې په لاس راوړې دي دې ته و هڅېدم چې د سویډني ژبې دغه ګرامر سره راټول کړم او څه نا څه یې د لویو زده کوونکو د پاره د ګټې اخیستلو وړ وګرزوم څو زده کوونکي و کولای سي چې د دغو دوو ژبو زمانې سره مقایسه کړای سي او د دې لارې په اساني سره و کړای سي چې په سمه توګه دغه دوې ژبې یوه و بلې ته ترجمه کړي.

هیله لرم چې نوي زده کوونکي او هغه زده کوونکي چې سویډني ژبه یې څه زیاته زده کړې ده د دغه ګرامر څخه ګټه واخلي. نوي زده کوونکي کولای سي چې هغه لومړني او ساده برخې یې و لولي او هغوی چې څه ډېره سویډني یې زده ده هغه نوري برخې یې و لولي.

دغه ګرامر ډېر مشرح نه دئ لیکل سوئ بلکي د سویډني ژبې زده کوونکو ته به یوه ډېره ساده او اسانه مرسته وي.کله چې مو د دې ځای څخه څه مرسته واخیسته نو د ډیرو

ژورو معلوماتو د پاره به بیا د سویډني ژبي و نورو ګرامرو ته مراجعه و کړئ چي یو د هغو څخه deskriptiv svensk grammatik دئ.

د ګرانو لوستونکو نظریې او لارښودنو ته پاملرنه کیږي.

Ali Rasulzada

Modersmålslärare i pashto

Malmö

20081020

alirasulzada@hotmail.com

Svensk pashto

grammatik

Ali Rasulzada
2008-10-20

د سویډني ژبي الفبې

دلته به د سویډني ژبي الفبې د امکان تر حده پوري د پښتو تلفظ سره و لیکل سي

Aa	آ	P p	پې
B b	بې	Q q	کیو
C c	سې	R r	ایر
D d	ډې	S s	ایس
E e	اِې	T t	تې
F f	ایف	U u	او
G g	ګې	V v	وې
H h	هو	W w	ډُبلوې
I i	اِي	X x	ایکس
J j	یي	Y y	اي
K k	کو	Z z	سیته
L l	ایل	Å å	او
M m	ایم	Ä ä	اې
N n	این	Ö ö	آو
O o	اُو		

١

د پورتنیو تورو د جملې څخه دغه لاندي نهه توري اواز لرونکي Vokaler دي:

(a, e, i, o, u, y, å, ä, ö)

د دغو نهه تورو د جملې څخه دغه څلور توري (a,o,u,å) د کلکو اواز لرونکو تورو hårda vokaler په نامه یادیږي او هغه نور پنځه توري (e,i,y,ä,ö) د نرمو اواز لرونکو mjuka vokaler په نامه یادیږي. هغه نورو پاته تورو ته بې اوازه توري یا konsonanter وایي. د بې اوازه تورو د جملې څخه که په کوم لغات کي Q, W, Z راغلي وي نو هغه کلمې د کومي بلي ژبي څخه سویډني ژبي ته راغلي وي.

اواز لرونکي توري کله لنډ او کله اوږد اواز ور کوي. که تر یوه اواز لرونکي توري وروسته دوه بې اوازه توري راغلي وي نو دغه اواز لرونکئ توری لنډ تلفظ کیږي لکه:

Kväll	کوِل
Dags	ډګس
Tack	تَک

په kväll کي تر ä وروسته ll راغلي دي نو ضرورت نه سته چي اوږده یې تلفظ کړو یاني د (کوېل) پر ځای یې په کوِل سره تلفظ کوو. داغه ډول د ډاګس پر ځای لیکو چي ډګس او د تاک پر ځای تَک لیکو. دا چي په پښتو ژبه کي د عربي ژبي زور ، زبر او پېښ نه سته نو ځکه یې نه لیکو.

که تر هر اواز لرونکي توري وروسته یو بې اوازه توری راغلئ وي نو هغه اواز لرونکئ تورئ اوږد تلفظ کیږي چي په سویډني ژبه کي ور ته lång vokal وایي لکه.

۲

Bil	بیل
Bok	بوک
Tak	تاک

دلته به یو شمېر توري و ګورو چي څرنګه د کلکو او نرمو اواز لرونکو تورو د موجودیت په وخت کي خپل اصلي اواز اړوي.

په سویډني ژبه کي د (ش) او (ښ) اوازونه: لکه څرنګه چي تاسي و لیدل په سویډني ژبه کي د (ش) او (ښ) توري نه سته او زیاتره وختونه تر k, g, sk, tj, sch, sj وروسته د اواز لرونکو تورو په راوړلو سره دغه د (ش) یا (ښ) اواز پیدا کیږي لکه:

لومړی: د (ش) اواز

الف ـ د (ش) اواز د K په واسطه: که تر K وروسته نرم اواز لرونکئ تورئ راسي نو د (ش) اواز ورکوي. په یاد یې و لرئ چي دغه قاعدې هر وخت صحیح نه دي.

Kina	شینا (چین)
Köra	شورا (چلول)
Kyla	شیلا (ساړه)
Känna	شینا (حسول)

۳

ب ـ د (ش) اواز د Tj په واسطه :

Tjat — شات(ډېر خلي ويل)

Tjej — شی (نجلۍ)

Tjock — شوک (چاغ)

Tjugo — شوګو (شل)

Tjänst — شېنست(شغل ، وظيفه)

دوهم ـ د (ښ) اواز

الف ـ د sk په واسطه: کله چي تر Sk وروسته نرم اواز لرونکئ توری (e, i, y, ä, ö) راسي نو د (ښ) اوازپيدا کيږي لکه :

Sked — ښېد (کاچوغه)

Skild — ښيلډ (جلا)

Skydda — ښِډا (ساتل)

Skära — ښېرا (پرې کول)

Skön — ښَن(ښه ، خوندور)

ب ـ د Sch په واسط لکه :

Schack — ښک (سترنج)

Schema — ښېما (مهال وېش)

Schimpans — ښمپانس(يوه بيزو ده)

Schnitzel	ښنتسل(يو ډول غوښي دي)

ج ـ د Sj په واسطه لکه:

Sjal	ښال(شال)
Sjuk	ښوک(ناروغه)
Själ	ښېل(روح)
Sjö	ښو (بحيره)

د ـ د g په واسطه لکه:

Generad	ښنېرډ (شرمنده)
Generell	ښينريل (عام)

هـ ـ د Stj په واسطه لکه:

Stjäla	ښَېلا (غلا کول)
Stjärna	ښَېرنا (ستوری)

٥

کلمه Ord

کلمه یو معنی لرونکئ لفظ دئ. هغه کلمې چي په سویډني ژبه کي استعمالیږي په لاندي ډول دي:

۱ ـ نوم(اسم)	Substantiv
۲ ـ صفت	Adjektiv
۳ ـضمیر	Pronomen
٤ ـ فعل	Verb
٥ ـ قید	Adverb
٦ ـ د عطف یا تمیز توری(حرف)	Konjunktion
۷ ـ د جر توری (حرف)	Preposition

نوم(اسم) Substantiv

نوم هغه کلمې ته ویل کیږي چي د یوه انسان ، حیوان ، ځای ، شي یا پیښې نوم وي لکه:

افغانستان ، احمد ، سړی ، اوښ ، مالمو ، ښځه ، ژړا ، غم او نور.

man, kvinna, Sven, häst, Malmö, sko, glädje…

اسم د معنی له مخي دوه ډوله دئ لکه خاص اسم او عام اسم.

خاص اسم: چي په سویډني کي ورته egen namn وایي ، هغه اسم دئ چي د هغه په

٦

مثل بل نه وي لکه:

احمد ، کابل ، سویډن ، مځکه او نور

په سویډني ژبه کي د خاص اسم د سر توری یو لوی توری وي. خاص اسمونه لکه د یو چا ، هیواد ، ښار ، طبعي شیانو نوم د (غره ، رود ، بحیرې ، بحر او داسي نورو شیانو نوم).

د جادو ، سړکانو ، کتابو ، اخبارو ، فلمو ، شرکتو ، موسسو ، او دفترو ، نومونه خاص نومونه دي او د الفبې په غټو تورو لیکل کیږي لکه :

Sven, Danmark, Himalaya, Amo, Dagens Nyheter, Skolverket…

که چیري کوم خاص اسم د دوو یا څو برخو څخه جوړ سوئ وي نو یوازي یې د لومړۍ برخي د سر توری لوی لیکل کیږي ، پدې شرط چي هغه نوري برخي یې خاص اسمونه نه وي لکه Svarta havet او Mindre Asien په لومړي نوم کي hav خاص اسم نه دئ اما په دوهم نوم کي چي Asien یو خاص اسم دئ ځکه نو په لوی توري لیکل سوئ دئ.

عام اسم: هغه نوم ته وایي چي د هغه جنس پر ټولو غړو دلالت وکړي لکه موټر ، سړی ، مېز ، کتاب ، هلک ، نجلۍ او نور.

په سویډني کي لکه ... bil, pojke, flicka, dörr, skola

د عام اسم ډولونه به لاندي و لولئ:

الف ـ د ذات اسم konkreta substantiv: هغه اسمونه دي چي د حواسو په واسطه یې حسولای سو لکه bok, bil, klocka, stol او نور.

٧

ب ــ د معنی اسم abstrakta substantiv: هغه اسم ته وايي چي سړی يې تصور کولای سي اما ليدلای يا مسه کولای يې نه سي لکه:

Sömn	خوب
Glädje	خوشالي
Snabbhet	چابکي
Styrka	قوه

ج ــ د جمع اسم kollektiva substantiv : هغه اسم ته وايي چي په شکل د مفرد وي اما په اصل کي جمع وي او د خپل جنس پر يوه نا معلوم شمېر باندي دلالت کوي او په ليکلو کي د مفرد په شکل ليکل کيږي مګر په خبرو کي اکثره وخت د جمع په شکل راځي لکه: folk, fisk, arme او نور.

اسم د شمېر له مخي دوه ډوله دئ لکه مفرد او جمع

مفرد اسمونه هغه اسمونه دي کوم چي د يو جنس يوازي او يوازي يو غړی ښکاره کوي. په سويډني ژبه کي د مفرد اسم تر مخه en يا ett ليکل کيږي. en والا اسمونه د utrum او ett والا د neutrum په نامه ياديږي. مفرد ته په سويډني کي singularis او جمع ته pluralis وايي.

دا چي کوم اسمونه en والا او کوم ett والا دي ، کومه قاعده نه سته.

د مفرد اسمو څخه جمع اسمونه د لاندي قاعدو په واسطه جوړيږي:

٨

لومړی ګروپ:

هغه en والا اسمونه چې په اخر کې یې a راغلې وي جمع یې په دا ډول جوړیږي چې د اسم د اخر څخه a لیري کوي او پر ځای یې or ور اچوي لکه:

en flicka	två flickor
en blomma	två blommor
en skola	två skolor
en resa	två resor
en gata	två gator

دلته ځیني استثناوي سته چې جمع یې د دغه قاعدې په خلاف په or جوړیږي ببله دې چې د اسم په پای کې a وي لکه:

en ros	två rosor
en våg	två vågor

دوهم ګروپ:

هغه en والا اسمونه چې جمع یې په ar جوړیږي او پر څلور ډوله دي لکه:

الف ــ هغه لنډ اسمونه چې پر اخري اواز لرونکي توري یې زور راغلئ وي لکه:

en bil	två bilar
en bur	två burar
en båt	två båtar

٩

ب ـ هغه en والا اسمونه چي په اخر کي يې اواز لرونکئ توری راغلئ وي لکه:

en pojke	två pojkar
en by	två byar
en fru	två fruar

د پورته مثال څخه داسي معلوميږي ، يوازي هغه اسمونه چي په اخر کي يې e راغلې وي e يې په ar بدليږي.

ج ـ هغه اسمونه چي په اخر کي يې er, en, el يا on راغلي وي جمع يې د ar په واسطه داسي جوړيږي چي تر اخر بې اوازه توري د مخه چي يې کوم اوازه لرونکئ تورئ راغلئ وي ، هغه د منځه ځي او د اسم په اخر کي ar ور لويږي لکه:

en afton	två aftnar
en morgon	två morgnar
en fröken	två fröknar
en himmel	två himlar
en spegel	två speglar
en cykel	två cyklar
en sommar	två somrar

دلته ځيني استثناوي سته چي جمع يې د دې قاعدې په خلاف په or جوړيږي لکه:

en toffel	två tofflor

د ــ يو شمېر en والا اسمونه سته چي په اخر کي يې ing يا dom راغلئ وي جمع يې په ar جوړيږي لکه:

en tidning	två tidningar
en varning	två varningar
en våning	två våningar
en sjukdom	två sjukdomar
en ungdom	två ungdomar

په دغه ګروپ کي يو شمېر اسمونه سته چي د جمع په وخت کي څه نور تغير هم پکښي راځي لکه:

en moder (mor)	två mödrar
en dotter	två döttrar

دريم ګروپ:

پدغه ګروپ کي هغه en والا اسمونه راځي چي جمع يې په er جوړيږي او لاندي ډولونه لري لکه:

الف ـ هغه لنډ اسمونه چي په بې اوازه توري يا konsonant ختميږي لکه:

en dam	två damer

ب ـ په دغه لاندي اسمونو کي د جمع کولو په وخت کي پخپله په اسم کي تغير راځي لکه:

en hand	två händer
en tand	två tänder
en stad	två städer
en strand	två stränder
en natt	två nätter

en bok	två böcker
en fot	två fötter
en rot	två rötter
en son	två söner

دلته یوه استثنا موجوده ده land چي ett والا اسم دئ جمع یې په er جوړیږي لکه:

ett land	två länder

ج ـ هغه اسمونه چي په ärn ( ) ,skap, het, ad ختم سوي وي جمع یې په er جوړیږي لکه:

en månad	två månader
en frihet	två friheter
en egenskap	två egenskaper
en station	två stationer
en konstnär	två konstnärer

د ـ دلته هغه اوږده اسمونه راځي چي پر اخري اواز لرونکي توري یې زور راځي لکه:

en gardin	två gardiner
en kostym	två kostymer

هـ ـ هغه اسمونه چي د نورو ژبو څخه په سویډني ژبه کي استعمالیږي لکه:

en muskel	två muskler
en doktor	två doktorer

en regel	två regler

و ــ دلته هغه اسمونه راځي چي په يوه اواز لرونکي توري ختميږي د جمع په وخت کي

يوازي r اخلي لکه:

en vikarie	två vikarier
en studie	två studier
en händelse	två händelser
en sko	två skor

ز ــ دلته يو شمېر ett والا اسمونه راځي چي جمع يې په er جوړيږي لکه:

ett bageri	två bagerier
ett konditori	två konditorier

ح ــ دلته هغه ett والا اسمونه راځي کوم چي په eum يا ium سره ختميږي لکه:

ett museum	två museer
ett laboratorium	två laboratorier

ی ــ هغه en والا اسمونه چي په اخر کي يې ion راغلئ وي لکه:

en diskussion	två diskussioner
en station	två stationer

ځلرم ګروپ:

دلته هغه ett والا اسمونه راځي چي په یوه اواز لرونکي توري ختم سوي وي او جمع یې په n سره جوړیږي لکه:

ett äpple	två äpplen
ett hjärta	två hjärtan
ett meddelande	två meddelanden
ett knä	två knän
ett bi	två bin
ett ställe	två ställen
ett frimärke	två frimärken
ett öppnande	två öppnanden
ett förtroende	två förtroenden

یادونه: د دغه لاندي ett والا اسمونو په اخر کي که څه هم اوازلرونکي توري دي خو د جمع کولو په وخت کي یې دغه اواز لرونکي توري بدلیږي لکه:

ett öga	två ögon
ett öra	två öron

پنځم ګروپ: دلته هغه ett والا اسمونه راځي چي د جمع په وخت کي کوم تغیر نه پکښي راځي لکه:

ett barn	två barn
ett hus	två hus
ett fönster	två fönster

۱٤

ett rum　　　　two rum

ځیني نور ett والا اسمونه سته چي د نورو ژبو څخه راغلي دي د جمع په وخت کي کوم تغیر نه پکښي راځي لکه:

ett universitet　　　　två universitet

ett problem　　　　två problem

یو شمېر en والا اسمونه هم سته چي په پای کي یې are یا ade راغلي وي او د جمع په وخت کي کوم تغیر نه پکښي راځي لکه:

en lärare　　　　två lärare

en murare　　　　två murare

en tränare　　　　två tränare

en ordförande　　　　två ordförande

یو شمېر نور en والا اسمونه سته چي د کاسبانو او ملیتونو نومونه وي او په er ختمیږي د جمع په وخت کي کوم تغیر نه پکښي راځي لکه :

en tekniker　　　　två tekniker

en indier　　　　två indier

یو شمېر نور en والا اسمونه سته چي د جمع په وخت کي یې د منځ اواز لرونکي توري اوړي لکه :

en man　　　　två män

en bror　　　　två bröder

en far(fader)　　　　två fäder

en gås　　　　två gäss

١٥

en mus		två möss
en lus		två löss

Bestämd och obestämd form : د اسم په زده کړه کې یوه بله خبره هم د

معین او غیر معین موضوع ده.

کله چې د یوه اسم په هکله خبري کوونکئ او اورېدونکئ دواړه خبر وي نو دغه اسم د bestämd form په حالت راځي چې د هغه اسم په اخر کي en, n, et یا na (bestämd artikel) ور لویږي. او که یوازي خبري کوونکئ د اسم په هکله خبري کوي او اورېدونکئ د هغه په هکله معلومات نه لري نو هغه اسم د obestämd form په حالت کي راځي او د اسم تر مخه en یا ett (obestämd artikel) راځي. دلته به یو مثال راوړو:

Idag kommer en man hem till oss. Mannen har ett barn med sig.

که پورتنۍ دوې جملې په پښتو ترجمه کړو نو به داسي ترجمه سي:

نن زمونږ کره یو سړی راځي. سړی د ځانه سره یو کوچنی لري.

په پښتو ژبه کي دغه قاعده دومره ډېره نه ستنه ځکه که وای نو به مو دوهمه جمله داسي مانا کړې وای: هغه سړی د ځانه سره یو کوچنی لري. چې په دغه ترجمه کي بیا (هغه) یو زیاتي کلمه ده چې راغلې ده. د دې د پاره چې په پښتو ترجمه کي bestämd form ترجمه معلومه وي نو به د هغه پر ځای د (آ) تورئ لیکو.

په لومړۍ جمله کي چې man راغلئ دئ obestämd form دئ او en یې تر مخه راغلئ دئ. په دوهمه جمله کي man په bestämd form کي راغلئ دئ ، ځکه یې mannen لیکل سوئ دئ.

دلته به اوس د اسم obestämd form او bestämd form په مختلفو ځایو کي و لولو.

د bestämd form په وخت کيد اسم تر مخه دغه درې کلمې ليکل کيږي:

د en والا مفرد اسم د پاره den راځي لکه:

Den nya läraren.

آ نوئ ښوونکئ

Den tokiga mannen.

آ لېونی سړی

د ett والا اسم د پاره det راځي لکه:

Det dyra huset.

آ ګران کور

Det svarta bordet.

آ تور مېز

د اسم د جمع په صورت کي de ورته راځي لکه:

De nya lärarna.

آ نوي ښوونکي

De billiga bilarna.

آ ارزانه موټران

١٧

د لاندني جدول له مخي د اسم bestämd او obestämd حالت د مفرد او جمع په صورت کي و لولئ:

Obestämd form singularis	Bestämd form singularis	Obestämd form pluralis	Bestämd form pluralis
en blomma	blomman	blommor	blommorna
en skola	skolan	skolor	skolorna
en våning	våningen	våningar	våningarna
en stol	stolen	stolar	stolarna
en stad	staden	städer	Städerna
en bok	boken	böcker	böckerna
en månad	månaden	månader	månaderna
en station	stationen	stationer	stationerna
en student	studenten	studenter	studenterna
en sko	skon	skor	skorna
ett bageri	bageriet	bagerier	bagerierna
ett knä	knät	knän	knäna
ett äpple	äpplet	äpplen	äpplena
ett öppnande	öppnandet	öppnanden	öppnandena
ett barn	barnet	barn	barnen
ett hus	huset	hus	husen
ett fönster	fönstret	fönster	fönstren
en lärare	läraren	lärare	lärarna
en ordförande	ordföranden	ordförande	ordförandena

Adjektiv صفت

صفت هغه کلمه ده چي د یوه اسم په باره کي څه وايي. ياني د اسم د ښهوالي ، بد والي ، کوچنيوالي ، لویوالي ، رنګ او داسي نورو حالتونو په هکله څه وايي لکه:

په پښتو کي: غټ ، کوچنی ، تور ، چابک ، ارزانه ، غوړ ، ښکاره او نور.

جګ سړی.

سور سپی.

هوښیاره نجلۍ.

تور ماښام.

په سویډني کي: rolig, dålig, bra, fin, billig, gammal, ny, röd, liten…

En liten stol.

En svart matta.

En lång penna.

En rund bulle.

په پورتنیو جملو کي تر صفتونو لاندي خط کش سوئ دئ

په سویډني ژبه کي د صفت خواص:

الف ــ صفت چي د en والا مفرد اسم سره راسي نو کوم تغیر نه پکښي راځي لکه:

Jag har en lång penna.

De köper en gammal bil.

Vi sålde en billig stol.

ب ـ صفت چي د ett والا اسمونو سره راسي نو په پای کي يې t زياتيږي لکه:

Ett <u>högt</u> hus.

Ett <u>rött</u> äpple.

Ett <u>vitt</u> bord.

ج ـ صفت چي د يوه داسي اسم سره راسي چي bestämd form و لري نو د صفت په اخر کي يوه a ور لويږي لکه:

Den <u>svarta</u> katten leker.

آ توره پشي لوبي کوي

Det <u>dyra</u> huset är hennes.

آ گران کور د دې دئ

De <u>goda</u> kakorna köper jag.

آ خوندوري کلچي زه رانيسم

د ـ صفت چي د اسم د جمع په صورت کي راسي نو د صفت په اخر کي a راځي لکه:

Jag <u>köper</u> tre höga hus.

زه درې جګ تعميرونه رانيسم

Vi har fyra <u>fina</u> stolar.

موږ څلور ښې چوکياني لرو

De vill ha två <u>vackra</u> barn.

دوی دوه ښکلي کوچنيان غواړي

۲۰

په صفت کي يو شمېر نور بې قاعدې تغيرات راځي چي دلته به يې و لولئ:

لومړی- هغه صفتونه چي په بې خجه اوږده اواز لرونکي توري ختم سوي وي د ett والا اسمونو د پاره دوې(tt) اخلي لکه:

Utrum	Neutrum	Pluralis och bestämd form
ny	nytt	nya
fri	fritt	fria
grå	grått	gråa
blå	blått	blåa

خج: پر يوه توري چي د اواز زور راغلئ وي.

دوهم- هغه لنډ صفتونه چي په پای کي t لري د ett والا اسمونو د پاره يوه t بله اخلي لکه:

Utrum	Neutrum	Pluralis och bestämd form
vit	vitt	vita
våt	vått	våta

دریمـ هغه صفتونه چي په t ختمیږي د ett والو اسمونو د پاره کوم تغیر نه

پکښي راځي لکه:

Utrum	Neutrum	Pluralis och bestämd form
intressant	intressant	intressanta
svart	svart	svarta
trött	trött	trötta

څلرمـ هغه صفتونه چي یو اوږد اواز لرونکئ توری و لري او په پای کي یې d

راغلې وي د ett والا اسمونو د پاره یې d په tt بدلیږي او اوږد اوازلرونکئ توری یې

په لنډ اواز لرونکي توري بدلیږي لکه:

Utrum	Netrum	Pluralis och bestämd form
röd	rött	röda
god	gott	goda
bred	brett	breda

پنځمـ هغه صفتونه چي په پای کي یې یو بې اوازه توری او یوه d راغلې وي d

یې په t بدلیږي لکه:

Utrum	Neutrum	Pluralis och bestämd form
hård	hårt	hårda
vild	vilt	vilda

شپږم ـ هغه صفتونه چي په پای کي يې بې خجه en راغلئ وي د ett والا اسم د پاره يې n په t بدليږي او د جمع او bestämd form په صورت کي يې e د منځه ځي او تر n وروسته a اخلي لکه:

Utrum	Netrum	Pluralis och bestämd form
vaken	vaket	vakna
mogen	moget	mogna
avlägsen	avlägset	avlägsna

اووم ـ هغه صفتونه چي په بې خجه el يا er ختم سوي وي د ett والا اسمو په صورت کي په پای کي t اخلي او دجمع په صورت کي يې e د منځه ځي او په پای کي يې a راځي لکه:

Utrum	Netrum	Pluralis och bestämd form
enkel	enkelt	enkla
vacker	vackert	vackra
mager	magert	magra

که چيري صفت د مذکر اسم سره راغلئ وي نو د bestämd form singularis په صورت کي د a پر ځای e ور لويږي لکه:

Den gamla mannen.

Min goda vän Peter.

Den enda sonen.

Peter den stora.

Katarina den stora.

د لوړو قاعدو په خلاف liten او gammal داسي صفتونه دي چي د bestämd form او جمع په صورت کي په لاندي ډول تغير پکښي راځي لکه:

liten

Obestämd form **singularis**	Bestämd form **pluralis**
en **liten** bil ett **litet** hus	den **lilla** bilen det **lilla** huset
Obestämd form **pluralis**	Bestämd **form** pluralis
Två **små** bilar Två **små** hus	de **små** bilarna de **små** husen

gammal

utrum	Neutrum	Pluralis och bestämd form
gammal	gammalt	gamla

دغه لاندي صفتونه تغير نه خوري لکه:

bra	inrikies
extra	utrikes
äkta	gratis
öde	stakars
gammaldags	lagom

Exempel : Skorna är bra.

Hjälp de stackars människorna.

De fick gratis material.

Hon kom i lagom tid.

٢٤

د صفت مقایسوي خواص: Adjektivets komparation

په پښتو ژبه کي د صفت دا خاصیت موږ دومره په کار نه اچوو لکه په سویډني ژبه کي چي په کار لویږي. د صفت مقایسه په فارسي ژبه کي سته او کله کله یې موږ په پښتو کي هم په کار اچوو لکه چي کله کله وایو چي: دا ښځکی تر هغه ښځکي لوی دئ. اصلا باید و وایو چي دا ښځکی تر هغه لوی تر دئ. یا وایو چي دا ښځکی تر ټولو لوی دئ. اصلا باید و وایو چي دا ښځکی لوي ترین دئ. اوس به دا موضوع په سویډني ژبه کي و ګورو.

صفت درې مقایسوي حالته لري لکه: **Positiv, komparativ** och **superlativ**

Komparativ حالت داسي وي چي که یو شی د یوه شي سره مقایسه کوو لکه:

Min bok är dyrare än din.

زما کتاب ستا تر کتاب ګران تره دئ.

Superlativ حالت داسي دئ چي که یو شی د ډیرو شیانو سره مقایسه کوو لکه:

Min bok är dyrast.

زما کتاب ګران ترین دئ.

په سویډني ژبه کي د صفت دغه حالتونه په لاندي توګه جوړیږي لکه :

Grupp I

Positiv	komparativ	superlativ
fin	fin**are**	fin**ast**
billig	billig**are**	billig**ast**

د زیاتره صفتونو komparativ او superlativ د پورتنۍ قاعدې په شان وي.

Grupp II

په دغه لاندي لسو صفتونو کي اواز لرونکي توري تغير کوي لکه:

positiv	komparativ	superlativ
ung	yng**re**	yng**st**
tung	tyng**re**	tyng**st**
stor	stör**re**	stör**st**
grov	gröv**re**	gröv**st**
låg	läng**re**	läg**st**
lång	läng**st**	läng**st**
trång	träng**re**	träng**st**
få	fär**re**	______
små	smär**re**	_____
hög	hög**re**	hög**st**

Grupp III

دا لاندي پنځه صفتونه بې قاعدې دي

positiv	komparativ	superlativ
dålig	sämre värre	sämst värst
god (bra)	bättre godare	bäst godast
gammal	äldre	äldst
liten	mindre	minst
många	fler	flest

د sämre, sämst او värre, värst تر منځ يو لږ توپير سته ، په لاندي مثال کي يې و

ګورئ:

٢٦

Ex : Hon var sjuk i går.

دا پرون ناروغه وه

Idag är hon sämre.

دا نن بدتره ده

Pelle är svår att ha i klassen.

پیله ډېر مشکل دئ چي په ټولګي کي وي

Han är till och med värre än sin bror.

دی حتی تر خپل ورور بدتره دئ

Eva är sämst i klassen. (kunskaper)

ابوا په آ ټولګي کي خرابترینه ده

Pelle är den värsta eleven i klassen.(= den besvärligaste)

پېله په آ ټولګي کي خرابترین دئ

Grupp IV

هغه صفتونه چي په isk او یا بې خجه ad ختم سوي وي komparativ او superlativ

یې په mer او mest سره جوړيږي لکه:

positiv	komparativ	superlativ
typisk	mer typisk	mest typisk
begåvad	mer begåvad	mest begåvad

یادونه: د van ، komparativ او superlativ معمولا په mer او mest سره جوړيږي.

٢٧

Grupp V

چي د صفت په شان په کار لوېږي **Perfekt particip** och **presens particip**

komparativ او superlativ يې په mer او mest سره جوړېږي لکه:

positiv	komparativ	superlativ
intresserad	**mer** intresserad	**mest** intresserad
förstående	**mer** förstående	**mest** förstående

یادونه: د Presens particip او Perfekt particip د پاره د فعل په برخه کي وګورئ.

یادونه: هغه صفتونه چي په بې خجه - el, -er, -en ختم سوي وي د komparativ

او superlativ په وخت کي يې e د منځه ځي او په پای کي يې are او ast ور لوېږي

لکه.

positiv	koparativ	superlativ
enkel	enklare	enklast
vacker	vackrare	vackrast
mogen	mognare	mognast

د **Komparativ** bestämd, obestämd, sigularis, pluralis ټولو د پاره په يو شکل

لري لکه:

Ex : Herr Gren bor i ett billigare hus än Päronkvist, men Gren har intelligentare söner och en vackrare fru.

ښاغلئ ګرېن تر پېرون کويست په يوه ارزانه کور کي اوسيږي ، لاکن ګرېن تر پېرون

کويست ذکي تره زامن او ښکلې تره مېرمن لري.

۲۸

په پورته جملو کي د صفت د مفرد او جمع په حالتونو کي کوم تغير نه دئ کړئ. ځکه billigare د کور د پاره راغلئ دئ کوم چي یو مفرد اسم دئ او intelligentare د söner د پاره راغلئ دئ کوم چي جمع اسم دئ.

Superlativ د دواړو bestämd او obestämd حالتونو سره راځي لکه:

	Bestämd form	Obestämd form
Grupp I	(den, det, de) fin**aste** billig**aste** enkl**aste**	fin**ast** billig**ast** enkl**ast**
Grupp II	yng**sta** stör**sta**	yng**st** stör**st**
Grupp III	säm**sta** äld**sta**	säm**st** äld**st**
Grupp IV	mest typisk**a**	mest typiskt-**t-a**
Grupp V	mest road**e** mest strålande	mest roa/d –**t de** mest strålande

۱ ـ یادونه: هغه صفتونه چي superlativ یې په ast سره ختمیږي د جمع او bestämd form په صورت کي یې په پای کي e راځي.

هغه صفتونه چي superlativ یې په st سره ختمیږي د جمع او bestämd form په صورت کي یې په پای کي a اخلي.

۲ ـ یادونه : د هغه صفتونو او Particip چي komparativ او superlativ حالت یې په mer(a) او mest جوړیږي د جمع او bestämd form superlativ په هغه شکل وي لکه په اصلي حالت positiv کي وخت کي مثالونه یې پورته په Grupp IV او Grupp V کي و ګورئ .

۲۹

ضمير Pronomen

ضمير هغه كلمه ده چي د اسم پر ځای راځي لكه:

په پښتو كي: زه ، موږ ، ته ، تاسي ، زما ، زموږ او نور

په سويډني كي:

Jag, vi, du, ni, min, din, han….

ډېر ضميرونه درې حالته لري لكه فاعلي subjektiv، مفعولي objektiv او اضافي genitiv. دغه درې حالته يې د شخصي ضميرونو personliga pronomen په نامه يادېږي. چي دغه genitiv حالت يې اكثره وختونه د possessiva pronomen ياني ملكي ضمير په نامه يادېږي.

ضمير متكلم första person، مخاطب andra person يا غايب tredje person حالتونه لري او د متكلم ، مخاطب او غايب په حالتو كي مفرد او جمع لري لكه :

متكلم första person : متكلم هغه څوك دئ چي خبري كوي. د متكلم ضمير مفرد او جمع لري لكه :

په پښتو كي :

د متكلم مفرد ضمير : زه ، ما

د متكلم جمع ضمير : موږ

۳۰

مخاطب andra person : مخاطب هغه څوک دئ چي خبري کوي. د مخاطب ضمير مفرد او جمع لري لکه:

د مخاطب مفرد ضمير : ته ، تا

د مخاطب جمع ضمير : تاسي

غايب tredje person : غايب هغه څوک دئ چي متکلم يې په باره کي خبري کوي. د غايب ضمير مفرد او جمع لري لکه :

د غايب مفرد ضمير : دی ، دا ، دغه

د غايب جمع ضمير : دوی

په سويډني کي:

Första person singularis	:	*Jag*
Första person pluralis	:	*Vi*
Andra person sigularis	:	*Du*
Andra person pluralis	:	*Ni*
Tredje person singularis	:	*Han, Hon, Den, Det*
Tredje person pluralis	:	*De*

الف ـ د ضمير فاعلي حالت Subjektform : فاعل هغه څوک دئ چي يو کار کوي ياني په جمله کي فعل د ده دخوا اجرا کيږي لکه:

۳۱

په پښتو کي:

زه

موږ

ته

تاسي

دی ، ده ، دا ، دې ، دغه

دوی

په سویډني کي:

Subjektform

Jag

Vi

Du

Ni

Han, Hon, Den, Det

De

ب ـ د ضمیر مفعولي حالت Objektform: مفعول هغه څوک یا شی دئ چي د فاعل فعل پر اجرا کیږي لکه:

په پښتو کي:

زه ، موږ

ته ، تا

تاسي

۳۲

دی، دا، دغه

دوی

په سویډني کي:

Objektform

Mig

Oss

Dig

Er

Honom, Henne, Den, Det

Dem

ج- ملکي (اضافي) ضمیر genitiv (possessiv): ملکي ضمیر هغه ضمیر دئ چي د یو شي ملکیت ښکاره کوي لکه:

په پښتو کي:

زما

زموږ

ستا

ستاسي

د ده، د دې، د دغه

د دوی

۳۳

په سویډني کي: ملکي ضمیر په سویډني ژبه کي د ett والا اسمونو او جمع د پاره داسي نه وي لکه د en والا اسمونو د پاره لکه:

Possessiva pronomen

Utrum	**Neutrum**	**Pluralis**
Min	Mitt	Mina
Vår	Vårt	Våra
Din	Ditt	Dina
Er	Ert	Era
Hans	Hans	Hans
Hennes	Hennes	Hennes
Dess	Dess	Dess
Deras	Deras	Deras

په سویډني ژبه کي یو ډول ضمیر سته چي د انعکاسي ضمیر reflexiva pronomen په نامه یادیږي چي په پښتو کي یې د مشترک ضمیر په نامه بولي. دا ضمیر په داسي حال کي استعمالیږي چي د فاعل فعل بیرته په خپله پر فاعل باندي اجرا کیږي لکه:

Jag tvättar mig. زه خپل مخ مینځم.

٣٤

دا ضميرونه په لاندي ډول دي:

Subjektform	**Reflexiva pronomen**
Jag	Mig
Vi	Oss
Du	Dig
Ni	Er
Han	Sig
Hon	Sig
Den, Det	Sig
De	Sig

دلته به د دغه ضميرونو يو څو مثالونه و لولئ:

Jag tvättar mig i varmt vatten.

زه خپل مخ په تودو اوبو مينځم

Vi tvättar oss i varmt vatten.

موږ خپل مخونه په تودو اوبو مينځو

Du tvättar dig i varmt vatten.

ته خپل مخ په تودو اوبو مينځې

Ni tvättar er i varmt vatten.

تاسي خپل مخونه په تودو اوبو مينځئ

Han tvättar sig i varmt vatten.

دی خپل مخ په تودو اوبو مينځي

Hon tvättar sig i varmt vatten.

دا خپل مخ په تودو اوبو مينځي

Den, Det tvättar sig i varmt vatten.

دغه خپل مخ په تودو اوبو مينځي

De tvättar sig i varmt vatten.

دوی خپل مخونه په تودو اوبو کي مينځي

انعکاسي ملکي ضميرونه reflexiva possessiva pronomen لکه:

Subjektform	**Possessiva pronomen**	**Reflexxiva possessiva pronomen**
Jag	Min	Min, Mitt, Mina
Vi	Vår	Vår, Vårt, Våra
Du	Din	Din, Ditt, Dina
Ni	Er	Er, Ert, Era
Han	Hans	Sin, Sitt, Sina
Hon	Hennes	Sin, Sitt, Sina
Den, Det	Dess	Sin, Sitt, Sina
De	Deras	Sin, Sitt, Sina

Jag kammar mig med min kam.

زه خپل سر په خپله ږمنځ ږمنځوم

Vi kammar oss med vår kam.

موږ خپل سرونه په خپلو ږمنځو ږمنځوو

Du kammar dig med din kam.

ته خپل سر په خپله ږمنځ ږمنځوم

Ni kammar er med er kam.

تاسي خپل سرونه په خپلو ږمنځو ږمنځوئ

Han kammar sig med sin kam.

دی خپل سر په خپله ږمنځ ږمنځوي

Hon kammar sig med sin kam.

دا خپل سر په خپله ږمنځ ږمنځوي

Den, Det kammar sig med sin kam.

دغه خپل سر په خپله ږمنځ ږمنځوي

De kammar sig med sin kam.

دوی خپل سرونه په خپلو ږمنځو ږمنځوي

لاندي به يو څو جملې و لولئ چي د ملکي ضمير او ملکي انعکاسي ضمير توپير به يې د پښتو ترجمې د لاري وکړئ.

1- Han kammar sig med sin kam.

دی خپل سر په خپله ږمنځ ږمنځوي

2- Han kammar honom med sin kam.

دی په خپله ږمنځ د ده سر ور ږمنځوي.

3- Han kammar sig med hans kam.

دی خپل سر د ده په ږمنځ ږمنځوي.

4- Han kammar honom med hans kam.

دی د ده په ږمنځ د ده سر ور ږمنځوي.

يادونه: په پورتنيو سويډني جملو کي د سر نوم نه دئ راغلئ اما په پښتو ترجمه کي د سر کلمه راغلې ده . دا ځکه چي په پښتو کي سړی نه سي ويلای چي دی په خپله ږمنځ خپل ځان ږمنځوي. ځکه د يوې ژبي څخه و بلي ژبي ته د ترجمې په وخت کي سړی ناچاره وي چي يو شمېر کلمې د منځه يوسي او يا يې منځ ته راوړي او کوښښ و کړي

چي توري په توري ترجمه و نه کړي.

په لومړۍ جمله کي ترجمه سمه ده ، مګر په دوهمه جمله کي Han (a) نفر دئ او Honom (b) نفر دئ چي (a) نفر يې د (a) نفر په ږمنځ سر ور ږمنځوي.

په دريمه جمله کي Han (a) نفر دئ او خپل سر د hans (b) نفر په ږمنځ ږمنځوي.

په څلرمه جمله کي Han (a) نفر د ده honom (b) نفر سر د hans (b) نفر په ږمنځ ور ږمنځوي.

Indefinita pronomen مبهم ضميرونه:

دغه ضميرونه يو غير معين حالت لري يعني يو خاص شى نه تعينوي مثالونه يې په لاندي ډول دي.

الف-

Någon
Något
Några
Någonting

مثال :

Har du någon penna?

ته کوم قلم لرې ؟

Ringde någon igår?

کوم چا پرون تلفون و کړ ؟

Vi köper inte något hus i år.

موږ سږ کال کوم کور نه رانيسو.

Kan du vänta på oss några dagar?

کولای سې چي موږ ته څو ورځي و درېږې؟

Jag har inte sett någonting av filmen.

ما د آ فلم کوم شی نه دئ ليدلئ.

په ورځنيو خبرو کي دغه څلور ضميرونه داسي ويل او يا ليکل کيږي لکه:

Någon *nån*

Något *nåt*

Några *nåra*

Någonting *nånting*

ب-

Ingen

Inget

Inga

Ingenting

مثال:

Har du ingen bil?

ته هيڅ موټر نه لرې؟

Han såg inget päron.

ده هيڅ ناک و نه ليد.

Hon hade inga pengar.

٣٩

Det gör ingenting.

هیڅ پروا نه کوي.

یادونه: کله چي ingen, inget, inga, ingenting مفعولي حالت و لري او په یوه ساده زمانه کي راغلي وي نو په huvudsats کي راځي. په نورو حالتو کي په bisats کي راځي او شکل یې تغیر کوي لکه:

Huvudsats	**Bisats**
Ingen	inte…någon
Inget	inte…något
Inga	inte…några
Ingenting	inte…någonting

لکه:

Har du ingen bil?	Har du inte haft någon bil?
Jag såg ingen på gatan.	Jag har inte sett någon på gatan.
Det gör ingenting.	Han säger att det inte gör någonting.

:Bisats och huvudsatas

Huvudsats کاملي یا پوره جملې ته وایي. د دې مانا داده چي اورېدونکئ پوره مطلب ځني اخلي لکه:

Ahmad gick hem. احمد کور ته ولاړ.

Bisats: دا یوه نا مکمله جمله ده ځکه چي اورېدونکئ د دې جملې څخه پوره مطلب نه سي اخیستلای او د یوې بلي جملې غوښتونکئ وبي لکه:

٤٠

کله چي زه راغلم ، دا یو bisats دئ ځکه چي اورېدونکي پوره مطلب ځني وا نه خیست. اوس نو باید یوه بله جمله و ویله سي چي اورېدونکئ مطلب ځني واخلي هغه جمله به نو یو huvudsats وي لکه:

کله چي زه راغلم ، ته تللئ وې.

När jag kom, hade du åkt.

مفصل بیان به یې د konjunktion په برخه کي راسي.

موږ په پښتو کي کله کله وایو چي ، سړی دي خپل کارونه سر ته و رسوي. په سویډني ژبه کي هم دغه man استعمالیږي چي فاعلي ، مفعولي او ملکي حالتونه لري لکه:

Man (en, ens, sin, sitt, sina)

subjekt : man

objekt : en

genitiv : ens, sin, sitt, sina

دلته به man د han سره وګورو.

Han, Honom, Hans, Sin

Han	Man	Ex : När man kör mot rött ljus,
Honom	En	stoppar polisen en och frågar
Hans	Ens	efter ens körkort. Man måste då
Sin	Sin	ta upp sitt körkort och visa det
		för polisen.

ترجمه:کله چي سړی موټر تر سره اشاره تېر کي ، پولیس سړی دروي او د سړي څخه د لایسنس پوښتنه کوي. سړی نو بیا باید خپل لایسنس ور ته را و باسي او پولیس ته یې ور و ښیي.

All, allt, alla EX : Under festen tog all mat slut.
Allting Han åt upp allt bröd.
Hon ska bjuda alla vänner på festen.
Han kan göra allting.

ترجمه: په مېلمستيا کي ټوله خواړه خلاص سوه. دې ټوله وچه ډوډۍ و خوړه. دا به ټوله ملګري مېلمستيا ته مېلمانه کي. دی هر څه کولای سي.

که چيري اسم دوه تنه وي نو all يا alla نه ورته راځي بلکي båda يا bägge ور ته راځي لکه:

Jag har två gäster. Båda är mina klasskamrater.

زه دوه مېلمانه لرم. دواړه زما همصنفيان دي.

Allra قيد(adverb) دئ لکه :

Hon gjorde sitt allra bästa.

دې خپله ټوله هڅه وکړه.

Allra först kom han.

دی تر ټولو د مخه راغئ.

Hel, Helt, Hela Ex : Hon åt en hel melon.
Hon har bott ett helt år i Paris.
Hon var här hela dagen.

ترجمه: دې يو درست خټکی و خوړ. دا يو درست کال په پاريس کي اوسېدلې ده. دا درسته ورځ دلې وه.

Var, Vart, Varje, Varenda, Var och en, etc.

Ex : Det gör jag **var** dag.

Det gör jag **varje** dag.

Det gör jag **varenda** dag.

زه یې هره ورځ کوم.

Varje människa har rätt till fri sjukvård.

هر انسان د ازادو روغتیایي چارو حق لري.

Hon cyklade till arbetet varje dag utom då det snöade.

دا هره ورځ تر کاره پورې پر بایسکل تله بېله هغه ورځې څخه چې واوره اورېده.

Maten blir dyrare för **Vart** år.

خواړه هر کال ګرانیږي.

Hon städade huset **varenda** dag och dammsög **varenda** rum mycket noggrant.

دې هره ورځ کور پاکاوه او هره کوټه یې په ډېر دقت جارو کوله.

که var یوازې راسې نو دهرسړي مانا ور کوي لکه:

Ex : Barnen åt en smögås var = Barnen åt var sin smörgås.

هر ماشوم یو سمرګوس وخوړ.

Flickorna fick ett äpple var = Flickorna fick var sitt äpple.

هرې نجلۍ یوه یوه منه واخیسته.

De lånade två böcker var = De lånade var sina två böcker.

دوی هر یوه یو یو کتاب پور کړ.

Var och en, vart och ett

Ex : Var och en av flickorna = alla flickor

varje flicka (i den gruppen)

Ex : Var och en som önskar stanna en längre tid i ett främmande land måste ha uppehållstillstånd.

هر څوک (ټوله) چي غواړي چي په یوه پردي هیواد کي د ډېر وخت د پاره پاته سي

باید د پاته کېدو اجازه ولري.

Jag anser att detta är vars och ens ensak.

زه فکر کوم چي دا د هر چا شخصي کار دئ.

Varannan, vartannat, varandra

Ex : Varannan bil körde för fort.

یو نه بل موټر تېز تئ.

Vartannat hus var blått och vartannat rött.

یو نه بل تعمیر شین وو او یو نه بل سور وو.

Var femte invånare i samhället är över 70år.

په دا ټولنه کي هر پنځم نفر تر اویاوو کالو اووښتئ وو.

De väljer president vart fjärde år.

دوی هر څلرم کال جمهور ریس ټاکي.

De älskar varandra och träffar varandra vareenda dag.

دوی یو پر بل سره ګران دي او هره ورځ یو او بل سره وین.

Vem som helst, vad som helst

Ex : Är det någon här i klassen som kan översätta den här texten.

ایا په دې ټولګي کي کوم څوک سته چي کولای سي دغه متن ترجمه کي ؟

٤٤

_ Javisst, det kan vem som helst göra, eftersom texten är så lätt.

هو ، هر څوک يې کولای سي ، ځکه چي دا متن اسانه دئ.

Han kunde göra vad som helst för sin fru.

ده هر څه د خپلي مېرمني د پاره هر څه کولای سوای.

Jag måste ha en ny klänning till festen på lördag , men jag vill inte ha vilken klänning som helst.

زه بايد د شنبې د ورځي د مېلمستيا د پاره يو نوئ کميس ولرم ، مګر زه هر کميس چي وي نه غواړم.

موصول ضمير: Relativa pronomen

هغه ضمير ته وايي چي بيرته اشاره کوي و يوې يا څو کلمو ته کوم چي په هغه جمله کي راغلي وي.

عاديترين موصول ضمير som دئ کوم چي د انسانانو ، حيوانانو او شيانو د پاره د مفرد او جمع په صورت کي راځي. som دواړه د فاعل او مفعول په شکل راځي.

سړی کولای سي چي د som پر ځای کوم بل موصول ضمير راولي لکه vilken vilket يا vilka

Som

Ex :

Subjekt Pojken, **som** går där borta, är min bror.

آ هلک چي هلته رهي دئ ، زما ورور دئ.

٤٥

Objekt Pojken **som** du ser där borta, är min bror.

آ هلک چي ته يې هلته وينې زما ورور دئ.

Ingen kunde svara på frågorna **som** läraren ställde.

هيڅچا و آ پوښتنو ته جواب نه سوای ور کولای کوم چي آ ښوونکي وکړې.

Preposition Stolen, **som** du sitter **på**, har jag fått av min far.

آ چوکۍ چي ته پر ناست يې ، ما زما د پلار څخه اخيستې ده.

+ relativ pronomen Tavlan, **om vilken** alla experter hade olika åsikter, visade sig vara en välgjord förfalskning.

آ تابلو، د کومي په باره کي چي ټولو مختلف نظرونه درلوده ، ځان يې ښکاره کړ چي په ښه جعلي جوړه سوې وه.

Vars, vilkas

Vars د som پر ځای د مفرد په شکل د ملکيت د پاره هم راځي لکه :

Ex : Huset, **vars** ägare var bortrest, brann ner till grunden.

آ کور ، د کوم چي څښتن يې په سفر تللئ وو تر مځکي پوري و سوځېد .

Vilka د som پر ځای د جمع په شکل د ملکيت د پاره هم راځي لکه :

Ex : Barnen, **vilkas** föräldrar var bortresta, kände sig ensamma.

آ ماشومان ، د کومو چي والدين په سفر تللي وه ، ځانونه يې يوازي حسول.

کېدای سي چي vars په نسبتي attributivt حالت کي د جمع د پاره راسي لکه :

Ex : Barnens, **vars** föräldrar var bortresta, kände sig ensamma.

٤٦

Vilken, vilket, vilka

Grundform	Genitiv
vilken (utrum)	**vilkens**
vilket (neutrum)	**vilkets**
vilka (pluralis)	**vilkas**

Ex : En sommarstuga är en stuga i **vilken** jag bor på sommaren.

يو د اوړي كور يو كور دئ په كوم كي چي زه اوړي كي اوسېږم .

Huset, i **vilket** jag bor är tio år gammal.

آ كور ، په كوم كي چي زه اوسېږم لس كاله زوړ دئ.

Pojkarna, **vilka** jag såg på gatan, hade svarta kostymer.

آ هلكان ، كوم چي ما په جاده كي و ليدل ، توري درشياني يې درلودې.

اشاري ضميرونه: Demonstrativa pronomen

دا ضميرونه هغه چا ياشي ته اشاره كوي ، د كوم په باره كي چي سړى خبري كوي لكه:

دغه ، هغه او نور .

په سويډني كي :

Den här, Det här, De här, etc.

den här	**den där**	(utrum)
det här	**det där**	(neutrum)
de här	**de där**	(pluralis)

Ex : **Den här** boken är min. دغه کتاب زما دئ.

Den där måste vara din. هغه باید ستا وي.

Det där bordet köpte jag igår. دغه مېز ما پرونه رانیوئ.

Jag vill inte ha **de här** stolarna. زه دغه چوکیاني نه غواړم

Jag vill ha **de där** i stället. پر ځای یې هغه غواړم.

Den, Det, De

Den او Det دواړه په یوازي Självständigt توګه او په نسبتي attributivt توګه راځي لکه:

Ex : **Den pennan** vill jag ha.

دغه قلم زه غواړم.

Den ska jag köpa i morgon.

دغه به زه سبا رانیسم.

Var har du fått **det bordet** och **de stolarna** från?

دغه مېز او دغه چوکیاني تا د کومه کړي دي.

De کولای سو چي په نسبتي attributivt توګه د فاعل او مفعول په توګه د ربط تر توري preposition وروسته راولو. په یوازي توګه د فاعل په شان راځي. Dem یوازي självständigt د مفعول په شان تر preposition وروسته راځي.

Hur många lägenheter finns det i **de husen** ?

په آ تعمیرونو کي څو کورونه سته ؟

Jag vet inte hur många det finns i **dem**, men i det här huset finns det tolv.

زه نه پوهېږم چي په هغو کي څو سته ، مګر په دغه تعمير دولس کورونه سته.

Denna, Detta, Dessa

Denna (utrum)
Detta (neutrum)
Dessa (pluralis)

Ex : **Denna** fråga är mycket svår att besvara.

دغه پوښتنه ډېره مشکله ده چي جواب ور ته ورکړو.

I **detta** hus bodde Strindberg fram till sin död.

په دغه کور کي ستریندبیري تر مرګه پوري اوسېدئ.

Dessa svårigheter hade jag inte väntat mig.

د دغه مشکلاتو انتظار مي نه وو ایستلئ.

Vad säger du om **detta**?

د دغه په باره کي څه وایې ؟

Sådan, Sådant, Sådana

Sådan (utrum)
Sådant (neutrum)
Sådana (pluralis)

٤٩

Ex : Han vill ha en **sådan bok**.

دی یو دغسي کتاب غواړي.

Hon vill köpa en **sådan** åt honom i morgon.

دا غواړي چي سبا یو دغسي و ده ته ور رانیسي.

Hur kan du säga något **sådant**?

ته څرنګه داسي څه ویلای سي؟

Sådana personer som ni måste få höra sanningen ibland.

دا ډول خلک چي تاسي باید ځیني وختونه رښتیا ځني واورئ.

په خبرو کي کیږي چي په پورتنیو ضمیرونه کي په لاندي ډول تغیر راسي لکه:

Sådan	Sån
Sådant	sånt
Sådana	såna

Samma

Samma د en والا ett والا ، جمع او مفرد سره په ټولو حالتو کي یو شان راځي لکه:

Ex : Han hade **samma rock** i fem år.

ده دغه یو بالاپوښ دا پنځه کاله درلودلئ وو.

De har bott i **samma hus** i hela sitt liv.

دوی په داغه کور کي ټوله عمر اوسېدلي دي.

Hon har **samma kläder** idag som igår.

دا نن یو ډول کالي لري لکه پرون.

Densamma, detsamma, desamma

Ex : Efter giftermålet var hon inte längre densamma.

پسله واده څخه نو نور دا د پخوا په شان نه وه.

Planläggandet av projektet blev, liksom utförandet av detsamma, mycket kostbart.

د پروژې پلان ګذاري د عملي کولو په شان هغومره ډېر ګران تمام سول.

فعــــل Verb

فعل هغه کلمه ده چي د يوه کار کول ځني ښکاره کيږي لکه:

په پښتو کي: خورم ، ليکو ، لولو ، غورځوي ، وهي ، ځغلي او نور.

په سويډني کي: gå , skriva , äta , läsa , dricka , springa , sova او داسي نور.

مصدر Infinitiv: مصدر د فعل مبدا او اساس دئ. د مصدر علامه په سويډني ژبه کي att ده.

مصدر په پښتو کي: لکه خوړل ، پرېکول ، پرېکېدل ، ځغستل ، پرېولل ، غورځول ، ليکل ، ببرېدل ، بېرول ، بيدول ، بيدېدل او نور. په پښتو کي د مصدر په پای کي (ول) يا (يدل) راځي.

مصدر په سويډني کي: په سويډني ژبه کي د زياتره مصدرونو په پای کي

۵۱

(a) راځي خو د يو شمېر مصدرونو په پای کي بيا نور اواز لرونکي توري راځي لکه:

Arbeta	کار کول
Ringa	زنګ وهل
Köpa	رانيول
Sy	ګنډل
Gå	تلل
Bo	اوسېدل

په سويډني ژبه کي فعل پر پنځو ګروپو وېشل کيږي او اکثره وخت د فعل هر ګروپ په دې لاندي څلورو حالتو ښکاره کيږي لکه :

	Infinitiv	Presens	Priteritum	Supinum
1-	Arbeta	Arbetar	Arbetade	Arbetat
2a -	Ringa	Ringer	Ringde	Ringt
2b –	Köpa	Köper	Köpte	Köpt
3 -	Sy	Syr	Sydde	Sytt
4-	Skriva	Skriver	Skrev	Skrivit
	Dricka	Dricker	Drack	Druckit
	Flyga	Flyger	Flög	Flugit
5 -	Gå	Går	Gick	Gått
	Göra	Gör	Gjorde	Gjort

په سویډني ژبه کي د فعل هغه برخي ته د فعل تنه verbstam وايي چي تر هغه وروسته کوم بل توری پوري مښلوي لکه ande, ning,else او نور ، په لاندي فعلونو کي یې و ګورئ:

1- Baka (stammen = infinitiven)

2 - Stäng, läs (stammen = infinitiven minus a)

3 – Sy (stammen = infinitiven)

4 – spring (stammen = infinitiv minus a)

gå (stammen = infinitiven)

د پورتنی جدول شرحه دا ډول ده:

لومړی مصدر Infinitiv : مصدر هغه وخت په یوه جمله کي راتلای سي چي تر مخه یې یو کومکي فعل لکه Kan , Ska او یا یو بل اصلي فعل چي د کومکي فعل په شان راغلئ وي لکه:

Han **kan** åka bil. — دی په موټر کي تلای سي

Du **ska** komma hem. — ته به کور ته راسې

په پورتنیو دوو جملو کي دوه کومکي فعلونه د Kan او Ska راغلي دي اوس په لاندي جملو کي و ګورئ چي ځیني اصلي فعلونه هم د کومکي فعلو په شان کار ور کوي:

Han **behöver** inte åka till Kabul. — دی ضرورت نه لري چي کابل ته ولاړ سي

Vi **brukar** läsa tidning. — موږ معمولا اخبار لولو

او یا

Jag **hörde** henne gråta. — ما واورېده چي دا ژاړي

Vi **såg** henne springa. — موږ دا ولیده چي ځغلي

Han **ber** oss vakna. — دی زموږ څخه غوښتنه کوي چې را ویښ سو

Hon **fortsätter** att läsa. — دا لوستلو ته دوام ورکوي

مصدر په سویډني کي کله کله د اسم په شان راځي لکه:

Springa är kul. — ځغستا ښه خوند کوي

کله کله د مصدر تر مخه یو Att هم راځي لکه:

Att springa är kul.

د مخه تر دې چې د Presens ، Priteritum او Supinum په هکله څه و وایو ښه به دا وي چې **فعل** په مختلفو زمانو کي و ګورو:

فعل په درو زمانو کي راځي لکه حال (اوس)، ماضي(تېره زمانه) او راتلونکې زمانه:

۱ ـ حال Presens: هغه زمانه ده چې یو **فعل** یا کار اوس کیږي لکه:

په پښتو کي:

زه د احمد څخه قلم اخلم.

موږ د دوی سره ښوونځي ته ځو.

موسی کالي مینځي.

د دې ورو کتاب لولي.

حال په سویډني ژبه کي په دغه ډول راځي لکه په پښتو ژبه کي. که پورتني جدول ته و ګورو په حال زمانه کي به ټوله هغه فعلونه راسي چې تر Presens لاندي لیکل سوي دي لکه:

Han **arbetar** i skolan. — دی په ښوونځي کي کار کوي.

۵٤

Vi **ringer** till vår lärare. — موږ خپل ښوونکي تليفون کوو.

De **köper** en bil. — دوی يو موټر رانيسي.

Vi **syr** kläder. — موږ کالي ګنډو.

Hon **skriver** ett brev. — دا يو خط ليکي.

Jag **springer**. — زه ځغلم.

Fåglarna **flyger** till Afrika. — مرغان افريکا ته الوزي.

De **går** hem. — دوی کور ته ځي.

جمله دوه ډوله ده چي يوې ته خبريه او بلي ته سواليه جمله وايي

۱ ـ خبريه جمله: لکه

احمد د کابل څخه راغئ.

سدو د خپل پلار سره ولاړ.

ملالۍ به د مور سره ولاړه سي.

۲ ـ سواليه جمله: په پښتو ژبه کي سواليه جمله په خبرو کي د خبريې جملې په شان دي خو په ليکلو کي ډېر ځلي د (ايا) کلمه او په پای کي د سواليې علامه (تپوسني نښه) ور اچوي لکه:

ايا احمد راغلئ دئ؟

ايا موږ تاته نه وه ويلي؟

په سويډني ژبه کي هم د پښتو ژبي په شان خبريه او سواليه جملې سته او د پښتو ژبي په شان ډېر ځلي په خبرو کي سواليه جمله د خبريه جملې په شان د اواز په واسطه ښکاره

۵۵

کوي. مګر په لیکنه کي (لومړی فعل) د جملې سر ته راولي او د جملې په پای کي (?) راولي لکه.

یادونه: د سویډني ژبي د جملې په سر کي چي کوم توری راځي نو به خاماخا لوی توری وي مه یې هېروئ.

ایا دی په ښوونځي کي کار کوي ؟	Arbetar han i skolan?
ایا موږ خپل ښوونکي ته تلیفون کوو ؟	Ringer vi till vår lärare?
ایا دوی یو موټر رانیسي ؟	Köper de en bil?
ایا موږ کالي ګنډو ؟	Syr vi kläder?
ایا دا یو خط لیکي ؟	Skriver hon ett brev?
ایا زه ځغلم ؟	Springer jag?
ایا مرغان افریکا ته الوزي ؟	Flyger fåglarna till Afrika?
ایا دوی کورته ځي ؟	Går de hem?

۲ـ ماضي: هغه زمانه ده چي یو کار په تېر سوي وخت کي سوئ وي او دا زمانه پر دري ډوله ده لکه مطلقه ماضي، قریبه (نیژدې) ماضي او بعیده (لیري) ماضي.

الف ـ مطلقه ماضي Priteritum: لکه

په پښتو کي:

دی کور ته راغئ.

موږ کابل ته ولاړو.

سلام لوست ولوست.

تاسي خپل ورور ته تليفون و کړ.

Ahmad arbetade på en skola.	احمد په يوه ښوونځي کښي کار وکړ.
Vi gick till skogen.	موږ ځنګله ته ولاړو
Han sprang fort.	ده چابک و ځغستل
Malalai ringde sin bror.	ملالۍ خپل ورور ته تليفون وکړ
En man sydde kläder.	يوه سړي کالي و ګنډل
Hon skrev ett brev.	دې يو خط وليکه
Flög de till USA igår?	ايا دوی پروند امريکا ته ولاړه ؟
Arbetade Ahmad på en skola?	ايا احمد په يوه ښوونځي کښي کار وکړ؟
Gick vi till skogen?	ايا موږ ځنګله ته ولاړو؟
Sprang han fort?	ايا ده چابک و ځغستل ؟
Ringde Malalai sin bror?	ايا ملالۍ خپل ورور ته تليفون وکړ ؟
Sydde en man kläder?	ايا يوه سړي کالي و ګنډل ؟
Skrev hon ett brev?	ايا دې يو خط وليکه؟
Flög de till USA igår?	ايا دوی پروند امريکا ته ولاړه ؟

ب ـ قريبه ماضي (نژدې تېره زمانه) Perfektum :

د دې د پاره چې د قريبي ماضي جملې جوړې کړو نو د فعل تر دريم حالت (supinum) د مخه د har کلمه راوړو لکه:

Jag **har arbetat** på en restaurang.	ما په يوه رستوران کې کار کړئ دئ
Vi **har köpt** en bil.	موږ يو موټر را نيولئ دئ
De **har bott** i Malmö i tre år.	دوی درې کاله په مالمو کې اوسېدلي دي
Ahmad **har skrivit** ett brev.	احمد يو خط ليکلئ دئ
Moosa **har gått** hem.	موسی کور ته تللئ دئ
Du **har byggt** ett hus.	تا يو کور جوړ کړئ دئ

د پورته جملو سواليه جملې په لاندي ډول دي چې د جملې لومړی فعل ياني Har د جملې سر ته راولو لکه:

Har jag arbetat på en restaurang?	ايا ما په يوه رستوران کې کار کړئ دئ ؟
Har vi köpt en bil?	ايا موږ په يوه رستوران کې کار کړئ دئ ؟
Har de bott i Malmö i tre år?	ايا دوی درې کاله په مالمو کې اوسېدلي دي ؟
Har Ahmad skrivit ett brev?	ايا احمد يو خط ليکلئ دئ ؟
Har Moosa gått hem?	ايا موسی کور ته تللئ دئ ؟
Har du byggt ett hus?	ايا تا يو کور جوړ کړئ دئ ؟

ج-بعیده (لیري) ماضي Pluskvamperfektum : د بعیدي ماضي د جملو د جوړولو د پاره د فعل د دریم حالت supinum تر مخه د hade کلمه راولو لکه:

Vi **hade jobbat** på en restaurang. مونږ په یوه رستوران کي کار کړئ وو.

Han **hade ringt** till sin bror. ده خپل ورور ته تلیفون کړئ وو.

De **hade bett** oss om hjälp. دوی زمونږ څخه د مرستي غوښتنه کړې وه.

Ahmad **hade skrivit** ett brev. احمد یو خط لیکلئ وو.

Du **hade gått** hem. ته کور ته تللئ وې.

Hennes bror **hade sett** en film. د دې ورور یو فلم لیدلئ وو.

د پورتنیو جملو سوالیه جملې: په پوتنیو جملو کي لومړی فعل یاني Hade د جملې سر ته راولو لکه:

Hade vi jobbat på en restaurang? ایا مونږ په یوه رستوران کي کار کړئ وو ؟

Hade han ringt till sin bror? ایا ده خپل ورور ته تلیفون کړئ وو ؟

Hade de bett oss om hjälp? ایا دوی زمونږ څخه د مرستي غوښتنه کړې وه ؟

Hade Ahmad skrivit ett brev? ایا احمد یو خط لیکلئ وو ؟

Hade du gått hem? ایا ته کور ته تللئ وې ؟

Hade hennes bror sett en film? ایا د دې ورور یو فلم لیدلئ وو ؟

۳ـ استقبال (راتلونکې زمانه) Futurum : په پښتو کې راتلونکې زمانه یا د (به) په مرسته جوړیږي او یا حال جملې ته د راتلونکې زمانې وخت ور اچوي لکه:

احمد به د کابل څخه سبا راسي.

احمد د کابل څخه سبا راځي.

پورتنۍ دواړي جملې د راتلونکې زمانې جملې دي. په سویډني ژبه کې هم راتلونکې زمانه د Ska , Skall او یا Kommer att په واسطه او یا د Presens جملې څخه د راتلونکې زمانې د یوه وخت د راوړو په واسطه جوړیږي لکه:

الف ــ د راتلونکې زمانې جوړول د ska او kommer att په واسطه :

د ska په واسطه:

Han **ska** arbeta på en restaurang.	دی به په یوه رستوران کې کار وکي.
Ni **ska** ringa till henne.	تاسي به و دېې ته تلیفون و کړئ.

د پورتنیو جملو سوالیې داسي جوړیږي چي د ska کلمه د جملې سر ته راولو لکه:

Ska han arbeta på en restaurang?	ایا دی به په یوه رستوران کې کار وکړئ؟
Ska ni ringa till henne?	ایا تاسي به دې ته تلیفون وکړئ ؟

د kommer att په واسطه:

Han **kommer att** arbeta på en restaurang..	دی به په یوه رستوران کې کار وکړي
Hon **kommer att** skriva ett brev.	دا به یو خط ولیکي.

۶۰

د پورتنیو جملو سوالیه جملې داسي جوړېږي چي د kommer کلمه د جملې په سر کي راولو لکه:

Kommer han att arbeta på en restaurang? ایا دی به په یوه رستوران کي کار وکي ؟

Kommer hon att skriva ett brev? ایا دا به یو خط و لیکي ؟

ب ـ کله چي کوم څه په راتلونکې زمانه کي کیږي او موږ یې په کوم بل ډول افاده کوو. دا کار دواړه په سویډني او پښتو ژبه کي د حال د **فعل** سره د راتلونکي زمانې د یوه وخت په یو ځای کولو سره کیږي لکه:

په پښتو کي:

دی سبا کابل ته ځي.

دا په راتلونکي کال کي جرمني ته ځي.

پورته جملې که د راتلونکي زمانې په قانون جوړي شي نو باید د (به) کلمه پکښې راسي. مګر په دغه حالت کي هم د راتلونکي زمانې مفهوم ځني اخیستل کیږي ، په سویډني ژبه کي هم په دغه شان ده لکه:

په سویډني ژبه کي:

Vi åker buss i morgon. موږ سبا په سرویس کي ځو.

De har prov nästa vecka. دوی راتلونکې اونۍ ازموینه لري.

د پورتنیو جملو سوالیه جملې د پخوا په شان د جملې د فعلونو راوړل د جملو و سر ته جوړېږي لکه:

٦١

Åker vi buss i morgon? ایا موږ سبا په سرویس کي ځو ؟

Har de prov nästa vecka? ایا دوی راتلونکې اونۍ ازموینه لري ؟

په پورتنیو دوو جملو کي د åker او har فعلونه د حال زماني فعلونه دي ، که چیري په لومړۍ جمله کي د i morgon او په دوهمه جمله کي د nästa vecka کلمې نه وای راغلي نو به دغو دواړو جملو د حال زمانه ښکاره کولای.

الف ـ futurum preteritum (راتلونکې مطلقه ماضي):

د skulle سره مصدر infinitiv یو ځای راولو لکه:

Hon **skulle ringa**, när vi kom. دې به موږ ته تلیفون کاوه چي موږ راغلو.

ب ـ konditionalis (شرطي) :

Jag **skulle köpa** en bil, om jag hade pengar.

ما به موټر رانیولئ وای که ما پیسې درلودای.

٤ ـ Imperativ (امر):

امر د فعل د اول ګروپ د پاره د هغه فعل د مصدر infinitiv حالت دئ لکه:

Infinitiv	**imperativ**
Baka	Baka
Tala	Tala
Arbeta	Arbeta

امر په نورو ټولو ګروپو کي چي د مصدر په پای کي یې a راغلې وي ، د a په د منځه وړلو سره جوړیږي او د هغه نورو ټولو فعلونو امر پخپله د مصدر څخه جوړیږي

٦٢

لکه:

Infinitiv	**imperativ**
Ring/a	Ring
Köp/a	Köp
Sy/	Sy
Bo/	Bo
Skriv/a	Skriv
Spring/a	Spring
Gå/	Gå

لازمي او متعدي فعل Transitiva och intransitiva verb:

متعدي فعل: **هغه فعل ته وايي چي فاعل او مفعول دواړه و لري**. Transitiva verb

لازمي فعل: **هغه فعل دئ چي مفعول نه لري**. دلته به يې د پښتو او Intransitiva verb سويډني ژبو د دواړو فعلونو مصدرونه و لولئ:

په پښتو کي لکه:

د **متعدي فعل**(Transitiva ver) **مصدرونه**: بيدول ، ژړول ، څنډول ، خرابول او نور

د **لازمي فعل**(Intransitiva verb) **مصدرونه**: بيدېدل(ويدېدل) ، ژړېدل ، څنډېدل ، خرابېدل او نور.

دلته به د پښتو يو څو جملې وګورو:

مور خپل ماشوم بيدوي. متعدي

ماشوم بيديږي. لازمي

٦٣

احمد یو ماشوم ژړوي.   متعدي

د احمد ماشوم ژاړي.   لازمي

په سویډني لکه:

Transitiva verb	**intransitiva verb**
Lägga	ligga
Sätta	sitta
Kyla	kallna
Förmörka	mörka
Fördröja	dröja
Fälla	falla
Döda	dö
Bränna	brinna
Röka	ryka
Släcka	slockna
Spräcka	spricka
Ställa	stå
Sänka	sjunka
Söva	sova, somna
Trötta	tröttna
Väcka	vaka, vakna
Tysta	tystna

Ex : Hon lägger boken på bordet. tr

دا کتاب پر مېز ایږدي.

Boken ligger på bordet. itr

کتاب پر مېز پروت دئ.

Han ställer cykeln på gården. tr

دی بایسکل په باغچه کي دروي.

Cykeln står på gården. itr

بایسکل په باغچه کي ولاړ دئ.

Han sätter sig i soffan. tr

دی په کوچ کي کښيني.

Han sitter i soffan. itr

دی په کوچ کي ناست دئ.

Han sätter blomman i vatten. tr

دی ا ګل په اوبو کي ايږدي.

Blomman står i vatten. itr

ګل په اوبو کي ولاړ دئ.

سړی کولای سي چي د فعل **Presens particip** او **Perfekt particip** :

د صفت شکل ېي و بولي ، پدې چي سړی يې اکثره وختونه د صفت په شکل په کار وړي. دلته به د هر يوه په باره کي معلومات تر لاسه کړو.

د Presens particip د جوړولو لاري:

الف ـ د فعل د تنې (verbstam) څخه چي پر اخري اواز لرونکي توري يې خج (فشار) راغلئ وي د *ende* په زياتولو سره جوړيږي. ياني دلته د فعل د دريم او پنځم ګروپ څخه کار اخلو لکه:

٦٥

Ex : tro**ende**

gå**ende**

یادونه: verbets stam د فعل تنه: د فعل د کلمې هغه برخه ده چي پساوند یا کوم بل توری یا توري پوري مبنلي لګه

1- Baka (stammen = infinitiv)

2- Stäng (stammen = infinitiv minus –a)

läs ” ”

3- Sy (stammen = infinitiv)

4- Spring (stammen = infinitiv minus –a)

Gå ” ”

ب- د فعل د تنې (verbstam) په پای کي د *ande* د زیاتولو له لاري جوړیږي. دا د فعل I, II a, II b, IV ګروپو څخه جوړیږي لګه:

Ex : tal**ande** I

lek**ande** II

sjung**ande** IV

د Presens particip استعمالول :

الف- د صفت په توګه لګه:

Ex : ett **lekande** barn

یو خندان کوچنی

ett **leende** natur

یو خندان طبعت

٦٦

ب ــ د اسم په توګه لکه :

Ex : ett **förtroende**

یو اعتماد

ett **påstående**

یو بیانیه

en **studerande**

یو محصل

en **gående**

یو تلونکئ

ج ــ د قید په توګه لکه :

Ex : Hon var **strålande** vacker.

دا د شغلې په شان ښکلې وه.

Hon bor **fortfarande** i Göteborg.

دا تر اوسه لا په یتبوري کې ژوند کوي.

د ــ د komma او gå تر **فعل** وروسته لکه:

Ex : Hon kom **cyklande.**

دا پر بایسکل راغله.

Hon kommer **cyklande**.

دا پر بایسکل راځي.

De går **sjungande**.

دوی په غزلو ویلو ځي.

Hon gick **leende** genom livet.

دا په ژوند کي خندانه وه.

د Perfekt particip جوړول د فعل د دریم حالت supinumformen څخه:

	Perfektum *Har* + supenum	Predikativ ställning	Attributiv ställning Obestämd form	 Bestämd form
I	Han har måla**t** stolan.	Stolen är måla**d**. Huset är måla**t**. Stolarna är måla**de**.	en måla**d** stol Ett måla**t** hus Två måla**de** stolar	den måla**de** stolen Det måla**de** huset De måla**de** stolarna
IIa	Hon har stäng**t** fönstret	Dörren är stäng**d**. Fönstret är stäng**t**. Dörrarna är stäng**da**.	en stäng**d** dörr ett stäng**t** fönster två stäng**da** dörrar	den stäng**da** fönstret det stäm**da** fönstret de stäng**da** dörrarna
IIb	De har köp**t** bilarna.	Bilen är köp**t**. Huset är köp**t**. Bilarna är köp**ta**.	en köp**t** bil ett köp**t** hus två köp**ta** bilar	den köp**ta** bilen det köp**ta** huset de köp**ta** bilarna
III	Hon har sytt klänningarna.	Klänningen är sy**dd**. Skärpet är sy**tt**. Skärpen är sy**dda**.	en sy**dd** klänning. ett sy**tt** skärp två sy**dda** skärp	den sy**dda**klänningen det sy**dda** skärpet de sy**dda** skärpen
IV	Jag har skrivi**t** brevet.	Boken är skriv**en**. Brevet är skriv**et**. Böckerna är skriv**na**.	en skriv**en** bok ett skriv**et** brev två skriv**na** böcker	den skriv**na** boken det skriv**na** brevet de skriv**na** böckerna
	De har missförstå**tt** boken	Boken är missförstå**dd**. Barnet är missförstå**tt**. Barnen är missförstå**dda**.	en missförstå**dd** bok ett missförstå**tt** barn tva missförstådda barn	den missförstå**dda** boken det missförstå**dda** barnet de missförståd**da** böckerna
Oreg.	Vi har gjor**t** läxorna	Läxan är gjor**d**. Arbetet är gjor**t**. Läxorna är gjor**da**.	en välgjor**d** läxa ett välgjor**t** arbete två välgjor**da** läxor	den välgjor**da** läxan det välgjor**da** arbetet de välgjor**da** läxorna

معروف فعل او مجهول فعل Passiv form och aktivum form:

معروف فعل Aktiv form: هغه فعل ته ویل کیږي چي یو ښکاره فاعل و لري لکه:

احمد زه و لیدم. دلته احمد فاعل ، زه مفعول او ولیدم فعل دئ.

Ahmad har köpt en bil.

په لوړه جمله کي Ahmad فاعل bil مفعول او har köpt معروف فعل دئ او جمله یې aktiv form ده.

مجهول فعل Passiv form: دا هغه فعل دئ چي په جمله کي مفعول ډېر ښکاره رول و لري که فاعل په جمله کي وي او که نه وي.دا په دوو ډولو جوړیږي لکه:

لومړی د فعل په پای کي د s په زیاتولو سره لکه:

		Presens	Preteritum	Perfektum	Pluskvam - Perfektum
1	Dörren Fönstret Dörrarna	öppnas ” ”	öppnades ” ”	har öppnats ” ”	hade öppnats ” ”
2a	Dörren Fönstret Dörrarna	stängs ” ”	stängdes ” ”	har stängts ” ”	hade stängts ” ”
2b	Boken Häftet Böckerna	Köps ” ”	Köptes ” ”	har köpts ” ”	hade köpts ” ”
3	Blusen Skäpet Blusarna	Sys ” ”	Syddes ” ”	har sytts ” ”	hade sytts ” ”
4	Boken Brevet Böckerna	skrivs ” ”	Skrevs ” ”	har skrivits ” ”	hade skrivits ” ”

یادونه: هغه فعلونه چي په ګروپ 2b پوري اړه لري او په پای کي یې د مصدر تر a د مخه s راغلئ وي د passiv په وخت کي په حال زمانه کي es اخلي لکه läs/a چي läses

٦٩

کیږي.

هېر يې نه کئ چې د کومکي فعلو د استعمال په وخت کې د مصدر حالتونه په کار لويږي لکه:

Ex : Boken kan **lämnas** på biblioteket.

کتاب و کتابخانې ته ور کول کېدای سي.

Fönstret ska **stängas** på natten.

کړکۍ به د شپې و تړل سي.

Passiv په داسي وخت کي په کار لويږي چي سړی نه پوهيږي چي يو کار د چا له خوا کيږي لکه:

Ex : Dörren **öppnas** klockan nio.

دروازه پر نهه بجې خلاصيږي.

کېدای سي چي passiv پداسي ځای کي په کار واچوو چي ښکاره کي چي کوم کار د چا له خوا کيږي لکه:

Ex : Dörren **öppnas** av vakten.

دروازه د پيره دار له خوا خلاصيږي.

قید Adverb (د تمیز توری)

قید هغه کلمه ده چي پر فعل ، صفت ، قید او یا یوه جمله (sats) تاثیر کوي لکه:

Ex : Han kom **sent** till tåget.

دی ریل ته ناوخته راغئ.

په لوړه جمله کي sent قید دئ چي د kom پر فعل تاثیر کوي.

Han är **ganska** trevlig.

دی یو څه ښه سړی دئ

ganska قید دئ چي د trevlig پر صفت تاثیر کوي.

Hon kom **ovanligt tidigt** till sammanträdet.

دا مجلس ته غیر عادي وختي راغله.

په لوړه جمله کي دوه قیدونه موجود دي لکه ovanligt او tidigt قیدونه دي ، tidigt د kom د فعل د پاره قید دئ او ovanligt د tidigt د قید د پاره قید دئ.

Han dricker **vanligen** öl till maten.

دی معمولا د ډوډۍ سره بیر چښي.

په پورتنۍ جمله کي vanligen د sats قید دئ.

یادونه: کېدای سي چي قید د شمېر پر کلمو باندي هم تاثیر و کي لکه:

Ex : Det var **omkring (cirka)** 2000 människor på ishockeymatchen.

د یخي د هاکي په میچ کي تقریبا ۲۰۰۰ کسان وه.

یو شمېر عادي قیدونه:

I ـ ساده قیدونه:

a- aldrig	nu	snart	
alltid	ibland	sällan	
genast	ofta	redan	
b- här	hit	borta	bort
där	dit	hemma	hem
inne	in	uppe	upp
ute	ut	nere	ner, ned

c- inte
ej
icke

d- ju
nog
dock
emellertid m. fl

II– ګډ قیدونه: هغه قیدونه چي د enkelt adverb + preposition eller adverb څخه جوړ سوي وي لکه:

a- adverb + ifrån

härifrån = ifrån här (= den här plats)
norrifrån = ifrån norr

٧٢

varifrån = ifrån var (= vilken plats)

b- adverb + åt

häråt =till, mot

hitåt = i riktning mot

c- adverb + ut

norrut =till, mot norr

söderut =till, mot söder

västerut =till, mot väster

österut =till, mot öster

d- adverb + tills

hittills =till den här tidpunkten

dittills =till den där tidpunkten

Relativa adverb	**Interrogativa adverb**	**Demanstrativa adverb**
موصول قید	د پوښتني قید	اشاري قید
där	var	där
dit	vart	dit
varifrån	varifrån	varifrån
varför	varför	varför

Ex : **Varifrån** (interrogativ adverb) kommer du?

ته د کوم ځی یې ؟

۷۳

Den stad **varifrån** (relativ adverb = som…ifrån) jag kommer ligger i norra Sverige.

دا ښار د کوم ځخه چي زه یم په شمالي سویډن پروت.

Anders kommer också **därifrån**.

اندرس هم د هغه ځاي دئ.

Varför (interrogativ adverb) kom John inte till sammanträdet?

یوون ولي مجلس ته را نه غلئ ؟

Han var mycket upptagen, **varför** (relativ adverb = av vilken orsak) han inte kunde komma.

دی ډېر مشغول وو ، ځکه دی نه سوای راتلای.

Han var mycket upptagen. **Därför** (demonstrativ adverb = av den orsak) kunde han inte komma.

دی ډېر مشغول وو ، ځکه دی نه سوای راتلای.

د adverb د جوړولو مختلف ډولونه:

الف ـ د adverb جوړول د صفت adjektiv **ځخه**:

د صفت په پای کي t په زیاتولو سره لکه:

Ex : Studenterna är otroli**gt** intelligenta.

محصلان بې باوره ذکي دي.

Han gick förvånansvär**t** fort.

دی حیرانوونکئ ژر ولاړ.

Kom inte för sen**t** till lektionen.

درس ته ناوخته مه راځه.

1- Hon fick **ovanligt vackra** blommor av sin fästman.

دې د خپل سړي څخه غیر عادي ښکلي ګلان په لاس راوړه.

2- Hon fick **ovanliga, vackra** blommor av sin fästman.

د پورتنۍ جملې په شان مانا لري.

په لومړۍ جمله کي ovanligt قید دئ چي د vackra د صفت د پاره.

په دوهمه جمله کي ovanliga او vackra دواړه صفتونه دي.

ب ـ presens particip او perfekt particip د قید په شان راځي لکه:

Ex : Det är strål**ande** vackert väder idag.

نن ډېره ښکلې هوا ده.

Han vägrade bestäm**t** att skriva på pappret.

ده په قاطع ډول و نه منله چي کاغذ لاسلیک کړي.

ج ـ هغه صفتونه چي په *lig* سره ختم سوي وي په لاندي ډولونو سره قید ځني جوړېږي لکه :

۱ ـ د صفت په پای کي *t* ور اچوو لکه:

Han talar tydlig**t**.

دی واضح خبري کوي.

۲ ـ د *ing* له لاري لکه:

Har ni mölig**en** färska räkor?

ممکن تاسي به تازه ریکور لرئ.

Han kommer trolig**en** med nästa tåg.

فکر کیږي چي دی په دا بل ریل کي راځي.

Han talar tydlig**en** med någon.

معلومداره دی د کوم چا سره خبري کوي.

۳ـ د *t+vis* په زیاتولو سره لکه :

Han kommer vanlig**tvis** försent.

دی معمولا ناوخته راځي.

Kan ni möjlig**tvis** hjälpa mig med väskor?

ممکنه ده چي زما سره د بکسو مرسته و کړې ؟

هغه قیدونه چي سکون (ځای پر ځای والی) او حرکت ښکاره کوي :

ساکن قیدونه	حرکتي قیدونه
Befintlighet	**rörelse**
var ?	vart?
här	hit
där	dit
inne	in
ute	ut
uppe	upp
nere	ner
hemma	hem
borta	bort
framme	fram

د پورته قیدونو به یو څو مثاله راوړو : دغه دواړه ډوله قیدونه چي په سویډني کي جلا جلا مانا ور کوي خو په پښتو کي یو شان مانا ور کوي لکه

۷٦

Han står **där**.

دی هلته ولاړ دئ.

Han går **dit**.

دی هلته ځي.

په لومړي مثال کي د دې سببه där راغلئ دئ چي دی ولاړ دئ ځکه چي دی د یوه ځایه څخه بل ځای ته حرکت نه کوي مګر په دوهمه جمله کي dit راغلئ دئ ځکه چي دی د یوه ځای څخه بل ځای ته ځي یاني حرکت کوي.

نور مثالونه:

Eva är **hemma**.

ایوا کور ده.

Eva kommer **hem**.

ایوا کور ته راځي.

Ola bor **här**.

اولا دلته اوسیږي.

Ola flyttar **hit**.

اولا دلته را کډه کیږي.

۷۷

د عطف (وصل) کلمه Konjunktioner

Konjunktion یا د عطف (وصل) کلمه هغه کلمه ده چي دوه اسمونه یا په یوه عبارت کي دوې جملې سره یو ځای کوي لکه:

زمری او هوسۍ پر یوه ګدر اوبه چیښې.

نجوني راغلې مګر هلکان را نه غله.

په لومړۍ جمله کي (او) د وصل کلمه ده چي زمری د هوسۍ سره یو ځای کي.

په دوهمه جمله کي (مګر) د وصل توری دئ.

په پښتو او سویډني کي د وصل توري دوه ډوله دي چي یو یې مساوي د وصل توری Samordnande konjunktion او بل یې تابع د وصل توری underordnande kojunktin دئ.

۱ ـ Samordnande konjunktioner مساوي د وصل کلمه: دا هغه د وصل کلمه ده چي دوې مستقلي جملې huvudsatser سره یوځای کوي لکه:

<u>och</u> Hon sjunger **och** dansar.

دا غزل وایي او نڅا کوي.

Om du vill **och** det inte regnar, åker vi **och** badar i morgon.

که ته غواړې اوکه باران نه اورېدئ، سبا ځو او لمبیږو.

<u>samt</u> Eleverna uppmanas att till lektionen medtaga läroböcker **samt** papper.

زده کوونکو ته خبر ور کول کیږي چي د درس د پاره د زدکړې کتابونه او کاغذ ور سره راوړي.

samt لکه och داسي د وصل توری دئ خو samt یوازي په لیکلو کي په کار لویږي .

eller Ska du **eller** jag åka dit.

ته به هلته ولاړ سې که به زه هلته ولاړ سم ؟

varken … eller

Han kommer **varken** med böcker **eller** med papper.

ده نه کتابونه او نه کاغذ ور سره راوړل.

Varken han **eller** hans fru ville följa med.

نه ده او نه د ده مېرمني غوښتل چي ور سره ولاړ سي.

پورتنۍ د وصل کلمه د نفي (نه کولو) کلمه ده .

vare sig … eller

Han drack inte **vare sig** te **eller** kaffe.

ده نه چای و چیښل او نه یې کافي.

Han hade aldrig varit **vare sig** i Italien **eller** Spanien.

دی هیڅ کله نه هسپانیې ته تللئ دئ او نه ایټالیې ته.

Antingen … eller

Hon vill **antingen** åka till Malmö **eller** till Stockholm.

دی غواړي چي نه مالمو ته ولاړ سي او نه ستوکهولم ته.

både … och

Både du **och** jag är bjudna på festen.

ته او زه دواړه مېلمستیا ته خبر یو .

men Han hade bil **men** kunde inte köra.

ده موټر درلودئ مگر چلولای یې نه سوای.

utan Han är inte fattig **utan** rik.

دی مسکین نه دئ بلکي خان دئ.

Han kunde inte spela **utan** måste gå hem.

ده بازي نه سوای کولای بلکي باید کور ته تللئ وای .

för Han kan inte komma **för** han är sjuk.

ده نه سي کولای چي راسي ځکه چي دی ناروغه دئ.

ty

ty او för یو شی دي خو ty په خبرو کي نه راځي بلکي یوازي په لیکنه کي راځي.

۲ ـ **Underordnande konjunktioer** تابع د وصل کلمې: دا هغه د وصل کلمې دي چي یوه تابع جمله د یوې مساوي جملې سره مښلوي یا یو bisats او یو huvudsats سره یو ځای کوي لکه:

att Han säger **att** han är sjuk.

دی وایي چي دی ناروغه دئ.

genom att Han klarade examen **genom att** studera mycket.

دی د ډیرو لوستلو له لاري په ازموینه کي بریالی سو .

utan att Han gick **utan att** säga adjo.

دی ولاړ ببله دې څخه چي خدای په اماني وکړي.

då, när **Då/När** klockan slog sju, började festen.

کله چي اوه بجې سوې مېلمستیا پیل سوه.

medan **Medan** du äter tittar jag på TV.

پدې وخت کي چي ته خورک کوې زه تي وي ته ګورم.

۸۰

<u>sedan</u> Jag gick hem sedan jag hade varit på bio.

تر هغه وروسته چي زه په سينما کي وم زه کور ته ولاړم.

Jag går hem **sedan** jag har ätit.

تر هغه وروسته چي ما ډوډۍ خوړلې ده زه کور ته ځم.

<u>tills</u> Vänta på mig **tills** jag kommer.

ما ته و دريږه تر څو چي زه راځم.

<u>förrän</u> Han gick inte **förrän** jag kom.

دی ولا نه ړئ دمخه تر دې چي زه راسم.

förrän د منفي جملې د پاره راځي.

<u>innan</u> Jag vill träffa henne **innan** jag åker på semester.

زه غواړم چي دا ووينم د مخه تر دې چي زه رخصتي ځم.

<u>just som</u> Det ringde på dörren **just som** jag skulle bada.

فقط چي زه به لمبېدلم د دروازې زنګ ووهل سو.

<u>så länge som</u> Jag väntade **så länge (som)** jag kunde.

ما دومره انتظار و ايست څومره چي ما کولای سوای.

<u>så snart som</u> Han kom **så snart (som)** han kunde.

دی داسي ژر راغئ څومره ژر چي يې کولای سوای.

<u>så ofta som</u> Kom **så ofta (som)** du kan.

دومر ډېر راځه څومره چي کولای سې.

<u>som, liksom</u> Han springer **lika** fort **som** jag.

دی دومره تېز ځغلي لکه زه.

Han är mycket omtyckt **som** lärare.

دی د ښوونکي په شان پر خلکو ډېر ګران دئ.

än Han springer fortare **än** jag.

دی تر ما تېز ځغلي.

ju … desto **Ju** mer du äter **desto** tjockare blir du.

هر څومره چي ته ډېر خوري هغومره ډېر چاغېږې.

så att Han cyklade **så** fort **att** jag inte hann med.

ده دومره تېز بایسکل چلاوه چي زه نه سوای پسې رسېدلای.

Jag var **så** trött **att** jag genast somnade.

زه دومره ستومانه وم چي زه دستي بیده سوم.

för att Han reste sig **för att** se bättre.

دی ولاړ سو د دې د پاره چي ښه ویني.

Han reste sig **för att** han skulle se bättre .

دی ولاړ سو د دې دپاره چي ده ښه لیدلي وای.

اکثره وختونه تر för att وروسته مصدر یا skulle, ska راځي.

eftersom **Eftersom** klockan är mycket måste vi gå hem.

ځکه چي ډیري بجې دي موږ باید کور ته ولاړ سو.

därför att Han kom inte **därför att** han är sjuk.

دی را نه غئ ځکه چي دی ناروغه دئ.

emedan **Emedan** det regnar kan vi inte gå.

په دغه وخت کي چي باران اوري موږ نه سو تلای.

om, ifall **Om/Ifall** det regnar i morgon åker vi inte.

که سبا باران اوریږي موږ نه ځو.

fast, fastän **Fastän** hon var sjuk gick hon och arbetade.

د دې سببه چي دا ناروغه وه دا ولا نه ړه او کار یې و نه کړ.

۸۲

trots att **Trots att** läkarna varnade honom fortsatte han röka.

سربېره پر دې چې ډاکترانو ده ته اخطار ور کړ ده سګرېټ څکولو ته دوام ور کړ.

även om **Även om** det blir dålig väder, åker vi.

حتی که هوا خرابه هم وي ، ځو.

om Han frågar **om** jag kommer.

دی پوښتنه کو چې که زه (ور ، را) ځم.

sedan Han talade bra engelska, **sedan** han hade varit i England.

ده تر هغه وروسته چې انګلستان ته تللئ وو، ښې انګلیسي خبري کولې.

یادونه: مستقله جمله Huvudsats او تابع جمله Bisats :

۱ـ مستقله جمله Huvudsats:

هغه جمله ده چې په ځانګړې توګه راځي ، اوربدونکئ پوره مانا ځني اخلي او د بلي جملې انتظار نه کوي. کېدای سي چې مستقله جمله

خبریه ، سوالیه یا ندایه وي لکه:

Exempel :

Påstående	Han kommer nu.
Fråga	Kommer han nu?
Uppmaning	Kom nu!

۲ـ تابع جمله Bisats:

هغه جمله ده چې د يوې مستقلي جملې سره تړلې وي ، ياني تابع جمله په یوازنۍ توګه وجود نه لري. یا په بل عبارت ویلای سو چې تابع جمله د مستقلي جملې يو برخه ده ياني د مستقلي جملې يو ډول تشریح یا تعین کوونکې ده.

په Bisats Underordnande kojunktioner شروع کیږي لکه: په لاندي جملو کي تر Bisats لاندي خط کش سوئ دئ

Exempel:

När Sara kom, åkte gick vi på bio.

کله چي سارا راغله موږ سېنما ته ولاړو.

Hon kom hem, för att hämta pengar.

دا کورته راغله د دې د پاره چي پیسې واخلي.

Preposition د جر (ربط) کلمه

د جر توری د رابطې د توري په نامه هم یادیږي. دا کلمه د خپلي اصلي کلمې (چي معمولا اسم ، یو ضمیر چي د مفعول حالت ولري یا یو مصدر وي) تر مخه راځي او رابطه یې په جمله کي د خپلي اصلي کلمې سره ښکاره کوي لکه:

Boken ligger **på** bordet.

پدې ځای کي på د ربط کلمه ده چي د کتاب رتبطه د مېز سره ښکاره کوي.

په پښتو کي د جر توري:

د ، په ، پر ، تر ، سره ، **څخه** ، و ، پوري ، لاندي ، باندي ، سره ، راهیسي او نور.

مثال یې په پښتو کي:

احمد د خپل ورور سره ښوونځي ته ولاړ.

ملالۍ په قلم لیک لیکي.

په سویډني کي:

٨٤

av, för, från, bakom, bland, efter, i, hos, mot, på, till, åt, vid…

د جر یا ربط کلمې په سویډني ژبه کي درې ډوله دي چي یو ډول یې ساده دوهم ډول یې ګډ یا مرکب او دریم ډول یې هغه د ربط کلمې دي چي د **فعل** ، اسم یا صفت څخه جوړي سوي وي.

ساده د ربط کلمې: هغه دي چي یوه کلمه وي لکه *av, i, på, efter, från…* او مرکبې هغه دي چي د دوو کلمو څخه جوړ سوي وي لکه *(för skull)*, *(för sedan)*.

لومړی- ساده د جر توري لکه:

av

الف-

__ Tavlan är målad **av** min bror.

تابلو زما ورور رسم کړې ده.

__ Stolan är **av** trä.

چوکۍ د لرګي ده.

__ Hon skakade **av** rädsla.

دا د ډاره و رېږدېده.

__ Han dog **av** denna sjukdom.

دی د دغي ناروغۍ څخه مړ سو.

__ Hon var röd **av** ilska.

دا د قهره څخه سره وه.

__ Han blev trött **av** den långa promenaden.

دی د دا ډېر اوږده پیاده تګ څخه ستړئ سو.

ب ـ *av* تر ځينو صفتونو وروسته راځي لکه:

__ Det var snällt **av** dig att komma.

دا ستا مهرباني وه چي راغلې.

__ Hon är intresserad **av** konst.

دا د هنر (ارت) علاقه منده ده.

ج ـ *av* تر ځينو فعلونو وروسته راځي لکه:

__ Läxan bestod **av** två sidor.

کورنی کار دوه مخه وو.

__ Jag köpte boken **av** henne.

ما کتاب د دې ښځه رانيوئ.

د ـ *av* تر يو شمېر نومونو د مخه راځي لکه:

__ Jag läste brevet **av** misstag.

ما په غلطي کي مکتوب و لوست.

bakom

__ Han sitter **bakom** dig.

دی ستا تر شا ناست دئ.

bland

__ Min bil står **bland** de andra bilarna på parkeringsplatsen.

زما موټر د آ نورو موټرانو په منځ (جمله) کي ولاړ دئ د موټرانو په تم ځای کي.

او يا داسي هم ويل كيږي لكه:

__ bland annat (= bl. a.)

د هغه جملې څخه

__ bland andra (= bl. a.)

د هغو د جملې څخه

enligt

__ **Enligt** min åsikt är detta en god ide.

زما په نظر دا يوه ډېره ښه نظريه ده.

efter

الف۔ *efter* د ځای د پاره لكه:

__ Bilarna körde **efter** bussen.

موټران په سرويس پسې ولاړه .

ب۔ *efter* د وخت د پاره لكه:

__ Kom **efter** klockan tre!

تر درو بجو وروسته راسه !

ج۔ *efter* تر ځينو فعلونو وروسته راځي لكه:

__ Jag har frågat **efter** dig.

ما په تا پسې پوښتنه كړېده.

framför

الف۔ *framför* د ځای د پاره لكه:

__ Han står **framför** oss.

دی زموږ په مخ كي ولاړ دئ.

٨٧

ب۔ *framför* په نورو حالتو کي لکه:

__ **Framför** allt ska ni sköta er hälsa.

تاسي به تر ټولو دمخه خپله روغتیا وساتئ.

__ Jag föredrar kaffe **framför** te.

زه تر چایو کافي خوښوم.

<u>*från*</u>

__ Det här tyget är **från** Kina.

دغه ټکر د چین دئ.

__ Han kommer **från** Tyskland.

دی د جرمني دئ.

__ Vi fick ett brev **från** vår mor.

مورږ د خپلي مور لیک په لاس راوړ.

__ Bordet är **från** 1700 talet.

آ مېز د اولسمي پېړۍ دئ.

__ Avstå **från** att röka – lev länge!

سګریټ مه څکوه۔ ډېر ژوند وکړه !

<u>*för*</u>

الف۔ *för* تر ځینو نومونو وروسته لکه :

__ Hennes intresse **för** konst är stort.

د دې علاقه د آرت سره ډېره ده.

۸۸

ب- *för* تر ځینو صفتونو وروسته لکه:

__ Hon är rädd **för** ormar.

دا د مارانو څخه ډاریږي.

__ Han var orolig **för** oss.

دا زموږ په هکله نا ارامه وه.

__ De är kända **för** sitt goda humör.

دوی په خپل ښه خوی مشهوره دي.

__ Mannen är misstänkt **för** sabotaget.

آ سړی د ضرر رسولو تر اشتباه لاندي دئ.

__ Läxan var för lätt **för** dem.

کورنی کار دوی ته ډېر اسانه وو.

__ Det är bra **för** honom att vila.

د ده د پاره ښه ده چي استراحت وکړي.

__ Det är typiskt **för** henne att alltid säga emot.

دا د دې عادت دئ چي همېشه پر خلاف خبري کوي.

ج- *för* تر ځیني فعلونو وروسته

__ Jag ska berätta **för** henne.

زه به دې ته بیان و کړم.

__ Vi oroade oss **för** dig.

موږ ستا په هکله نا ارامي کوله.

__ Han presenterade sig **för** mig.

ده ځان ما ته را معرفي کړ.

__ Vi råkade ut **för** en olycka.

موږ د يوې بد بختۍ (بدي پيښې) سره مخامخ سولو.

__ Jag varnar dig **för** honom.

زه تا ته د ده سره د پام کولو خبر در کوم.

__ Jag intresserar mig **för** konst.

زه د آرت سره دلچسپي لرم.

före

__ Han gick **före** mig och visade vägen.

دی تر ما د مخه تئ او لار يې را ښودله.

__ Hon gick hem **före** klockan tre idag.

دا نن تر درو بجو د مخه کور ته ولاړه.

__ De är **före** sin tid på detta område.

دوی تر خپل وخت د مخه دي په دغه منطقه کي.

يادونه: före او innan که څه هم په پښتو کي يوه مانا لري مګر före يو preposition

دئ او innan يو konjunktion دئ.

genom

__ De körde **genom** staden.

دوی د ښار د لاري موټر و چلاوه.

__ **Genom** att ligga till sängs en vecka blev han frisk igen.

د دې لاري څخه چي دی يوه اونۍ په کټ کي پرېوت بيرته جوړ سو.

hos

__ Han bor **hos** sin syster.

دی د خپلي خور سره اوسيږي.

__ **Hos** Pär finner man en del exempel på dialektala uttryck.

په پیر کي سړی د لهجوي خبرو یوه برخه مثالونه وني.

i

الف۔ *i* د وخت د پاره په لاندي ډولو په کار لویږي:

د وخت د اوږدوالي د پاره. یاني د hur länge د پوښتني د جواب د پاره لکه:

__ Hon har bott här **i** två år.

دا دلته دوه کاله اوسېدلې ده.

کېدای سي چي په پورتنۍ جمله کي i هیڅ را نه وړو لکه:

__ Hon har bott här två år.

دا دلته دوه کاله اوسېدلې ده.

۹۱

ب- د *i* د استعمال د پاره لاندنی جدول و گورئ:

	Förfluten tid تېروخت	**I allmänhet** په عامه توگه	**Nutid** حال	**Framtid** راتلونکې زمانه
Årstider vår, -en, -ar sommar, -en, somrar höst, -en, -ar vinter, n, vintrar	i våras	på våren på vårarna	i vår	i vår
Helger jul, en, -ar påsk, en, -ar pingst, -en, -ar midsommar, -en, somara	i julas	på julen på jularna	i jul	i jul
Dagar söndag, -en, -ar måndag, -en, -ar tisdag, -en, -ar onsdag, -en, -ar torsdag, -en, -ar fredag, -en, -ar lördag, -en, -ar	i söndags	på söndagarna		på söndag
Delar av dagen morgon, -en, - morgnar förmiddag, -en, -ar eftermiddag, -en,-ar kväll, -en, -ar natt, -en, nätter	i morse i måndags morse i eftermiddags i går kväll i natt i går natt natten till i går	på morgonen på morgnarna på måndagmorgonen på eftermiddagen på eftermiddagarna på kvällen på kvällarna på natten på nätterna	 i eftermiddag i kväll i natt	i morgon bitti på måndag morgon i eftermiddag i kväll i natt
Året och månaderna januari februari mars april maj juni juli augusti september oktober november december	i fjol, i fjor förra året i januari	 i januari	i år i januari	nästa år i januari

ج- *i* د ځای د پاره دا ډول وي:

__ Han bor **i** Stockholm.

دی په ستوکهولم کي اوسیږي.

__ Han satte sig **i** gräset.

دی په وښو کي کښېنوست.

د- *i* تر ځینو صفتونو وروسته:

__ Han är duktig **i** svenska.

دی په سویډني کي تکړه دئ.

__ Hon var kär **i** honom.

دا پر ده ګرانه ده.

هـ- *i* تر ځینو اسمونو د مخه:

__ De ligger sjuka **i** influensa.

دوی د ریزش څخه ناروغه پراته دي.

__ Vad har de **i** lön.

د دوی تنخا (معاش) څو ده.

__ Alla hus kommer att förlora **i** värde.

ټول کورونه به بیه بایلوي.

__ Han delade apelsinen **i** fyra delar.

ده آ مالټه څلور ځایه کړه.

__ Hon kom **i** början av september.

دا د سیپټمبر په سر کي راغله.

__ De går **i** skolan fortfarande.

دوی تر اوسه لا ښوونځي ته ځي.

inom

__ Han kom **inom** synhåll.

دی معلوم سو.

__ Ni måste åka **inom** en vecka.

تاسي باید په یوه اونۍ کي ولاړ سئ.

längs

__ De promenerade **längs** floden.

دوی د رود په اوږدو پیاده ولاړه.

med

__ Han målade tavlan **med** en tjock pensel.

ده په یوه پنډ برس تابلو رسم کړه.

__ Hon betalade **med** en check .

دې په چیک پیسې ور کړې.

__ Vi reste dit **med** bil.

موږ هلته په موټر کي ولاړو.

__ De kom hit **med** föräldrarna.

دوی دلته د والدینو سره راغله.

__ Hon är släkt **med** homom.

دا د ده خپله ده.

__ Han ska gifta sig **med** henne.

دی به د دې سره واده و کړي.

٩٤

__ Vad menar han **med** det?

په دې کي د ده څه مقصد دئ؟

__ Kan jag få prata **med** dig ?

کولای سم چي ستا سره خبري و کړم؟

mellan

__ Eva satt **mellan** herr och fru Blom.

ایوا د ښاغلي او مېرمن بلوم تر مینځ ناسته ده.

__ Tåget går **mellan** Göteborg och Stockholm.

رېل د یتبوري او ستوکهولم تر منځ ځي.

__ De kom natten **mellan** torsdag och fredag.

دوی د پنج شنبې او د جمعې ترمنځ په شپه کي راغله.

mot

__ De åkte **mot** stan.

دوی د ښار خوا ته ولاړه.

__ Tåg **mot** Malmö.

د مالمو خواته رېل.

__ **Mot** slutet av april brukar våren komm till Sverige.

سویډن ته پسرلی معمولا د اپریل اخري خوا ته راځي.

الف۔ *mot* تر ځینو صفتونو وروسته لکه:

__ Hon är alltid snäll **mot** oss.

دا هر وخت زموږ په مقابل کي مهربانه ده.

٩٥

ب- *mot* تر ځينو فعلونو وروسته لکه:

__ Studenterna demonstrerade **mot** reformen.

محصلانو د نوو اصلاحاتو په مقابل کي مظاهره و کړه.

__ Han bytte sin gamla bil **mot** en ny.

ده خپل زوړ موټر په نوي اليش کړ.

om

الف- *om* د وخت د پاره لکه:

__ Vi reser **om** en vecka.

موږ يوه اونۍ وروسته سفر کوو.

ب- *om* د بدن د غړو د پاره لکه:

__ Vi var rena **om** händerna.

زموږ لاسونه پاک وه.

__ Vi frös **om** fötterna.

زموږ د پښو ساړه کېده.

__ Katten slickade sig **om** nosen.

پشي خپله پزه و څټل .

ج- *om* د ځينو قيدي افادو (adverbial utryck) د پاره لکه:

__ Stockholm ligger norr **om** Malmö.

ستوکهولم د مالمو په شمال کي پروت دئ.

__ Hon sitter till vänster **om** Sven.

دا د سوين ښۍ خوا ته ناسته ده.

٩٦

د ـ *om* تر ځینو صفتونو وروسته لکه:

__ Hon är rädd **om** sin son.

دا پر خپل زوی بیرېږي.

__ Han är medveten **om** svårigheterna.

دی په مشکلاتو خبر دئ.

هـ ـ *om* تر ځینو فعلونو ورسته لکه:

__ Han bad **om** råd.

ده د مشورې خواهش و کړ.

__ Boken handlar **om** dagens samhälle.

آ کتاب د ننۍ ټولني په هکله دئ.

Omkring

الف ـ د ځای د پاره لکه:

__ Det står tio äppelträd (runt) **omkring** huset.

د کور (تعمیر) پر شاو خوا لس منې ولاړې وې.

ب ـ د تقریبا په توګه لکه:

__ Han stannade i London **omkring** en vecka.

دی په لندن کي تقریبا یوه اونۍ پاته سو.

på

الف ـ *på* د وخت د پاره لکه:

وخت+د کار ختم

__ Han lagade bilen **på** tre timmar.

ده موټر په درې ساعته جوړ کړ.

۹۷

که سړی په پورتنۍ جمله کي i راولي نو به یې مانا داسي وي:

__ Han lagade bilen **i** tre timmar.

ده موټر دري ساعته جوړ کړئ دئ.

په لومړۍ جمله کي ده دري ساعته وخت په کار اچولئ دئ او کار خلاص سوئ دئ مګر په دوهمه جمله کي ده دري ساعته په کار اچولي دي مګر د جوړېدو کارلا نه دئ خلاص سوئ او دی لا مصروف دئ.

ب- *på* په منفي جملو کي چي د وخت اوږدوالئ ښکاره کوي لکه:

__ Jag har inte sett henne **på** två år.

ما دا په دوه کاله نه ده لیدلې.

__ Han får inte gå upp ur sängen **på** en vecka.

دا نه سي کولای چي په یوه اونۍ دي د کټه را ولاړه سي.

په لومړۍ جمله کي دوه کاله تېر سوي دي چي ما دا نه ده لیدلې. او په دوهمه جمله کي یوه اونۍ غواړي چي دی د کټه را ولاړ سي.

یادونه: د *på* په هکله نور معلومات په ۹۱ پاڼه کي د *i* د (ب) د جدول څخه په لاس راوړئ.

ج- *på* د ځای د پاره لکه:

__ Lampan står **på** golvet.

څراغ پر مځکه ولاړ دئ.

__ Hon bor **på** landet.

دا په سارا کي اوسیږي.

__ Vi går **på** bio.

موږ سینما ته ځو.

__ Han arbetar **på** sjukhus.

دی په روغتون کي کار کوي.

__ Hon läser **på** universitetet.

دا په پوهنتون کي درس وايي.

د ـ *på* تر ځینو صفتونو ورسته لکه:

__ Jag är säker **på** saken.

زه ډاډه یم پر دغه څه.

__ Han är trött **på** att höra dina råd ständigt.

دی ستا د دا ډیرو مشورو د اورېدلو څخه خسته دئ.

__ Hon var arg **på** sin man som alltid kom för sent till middag.

د دې خپل څښتن ته درد راتئ چي هر وخت د ماښام ډوډۍ ته ناوخته راتئ.

__ Han är rik **på** ideer.

دی ډیري نظریې لري.

__ Han är blind **på** ena ögat.

دی په یوه سترګه ړوند دئ.

__ Han är döv **på** ena örat.

دی په یوه غوږ کوڼ دئ.

هـ ـ *på* تر ځینو فعلونو وروسته لکه:

__ Jag blev bjuden **på** lunch.

زه د غرمې پر ډوډۍ مېلمه سوم.

__ De väntade **på** mig.

دوی ما ته انتظار ایستئ.

__ Jag litar **på** vad du säger.

زه په هغه څه باور لرم چي ته يې وايې.

__ Han ser **på** nyheter.

دی خبرو ته ګوري.

__ Hon svarar **på** brevet.

دا ليک ته جواب ور کوي.

__ Han ropade **på** hunden.

ده سپي ته ور ناري کړه.

__ Det beror **på** vädret.

په هوا پوري اړه لري.

__ De klagade **på** den dåliga maten.

دوی د آ خرابو خوړو څخه شکايت وکړ.

__ Hon skakade **på** huvudet.

دې سر و ښوراوه.

__ Han ryckte **på** axlarna.

ده اوږې کش کړې.

__ Vi har tio minuter **på** oss, innan bussen går.

موږ لس دقيقې لرو ، د مخه تر دې چي سرويس ځي.

و ـ *på* د مخه تر ځينو اسمونو لکه:

__ De är **på** väg.

دوی روان دي.

۱۰۰

__ Jag gör det **på** ett vilkor.

زه په یوه شرط دا کوم.

__ Han gör det **på** uppdrag av sin chef.

دی د خپل امر په سپارښت دا کار کوي.

__ Molnen ligger **på** 500 meters höjd.

اوريځ پنځه سوه متره لوړه ده.

__ Rummet är 7 m **på** längden och 4 m **på** breden.

آ خونه اوه متره اوږده ده او څلور متره بر داره ده.

__ Hon har en våninng **på** tre rum och kök.

دا یو کور لري چي درې خوني او یوه اشپزخانه لري.

__ Han har en son **på** fem år.

دی یو پنځه کلن زوی لري.

__ Har du något bra exempel **på** det ?

کوم ښه مثال يې لرې؟

يادونه: *å* په ځينو وختو کي د *på* پر ځای په کار لوېږي لکه:

å ena sidan…**å** andra sidan.

lämna saken **å** sido!

Hon talade **å** hans **vägnar**.

Till

الف- *till* د وخت د پاره لکه:

__ Vi stannar **till** den femtonde.

موږ تر پنځه‌لسمي نېټي پوري پاته کيږو.

__ Vänta **till** i morgon!

تر سبا پوري و دربږه.

١٠١

__ Läxan **till** idag är inte lätt.

د نن ورځي کورنی کار اسانه نه دئ.

__ Finns det några biljetter **till** i kväll?

د نن ماښام د پاره یو څو ټکټان سته؟

__ Han kom försent **till** middagen.

دی د ماښام ډوډی ته نا وخته راغئ.

__ Han kom **till** sist.

په اخره کي دی راغئ.

__ De ska flytta **till** hösten.

مني ته به دوی کډه سي.

ب- *till* د ځای د پاره لکه:

__ Vi ska resa **till** Stockholm.

موږ به ستوکهولم ته سفر و کړو.

__ Det här är vägen **till** Uppsala.

د اوپسالا لار دغه ده.

__ **Till** vem ska jag vända mig för att få veta det?

چا ته مخ ور و ګرزوو چي په خبر سو؟

__ Hon åkte tåg **till** Malmö.

دا مالمو ته په ریل کي ولاړه.

__ De promenerade **till** teatern.

دوی تیاتر ته پیاده ولاړه.

__ De åkte buss **till** skolan.

دوی ښوونځي ته په سرویس کي ولاړه.

__ De kan skriva **till** Anders.

دوی کولای سي چي اندرس ته ولیکي.

ج- *till* تر ځینو فعلونو وروسته لکه:

__ Vad kan den här produkten användas **till**?

دغه محصول د څه د پاره په کار لوېدلای سي.

__ Hon har utvecklats **till** en stor artist.

دې یوې لویي ارتیستي ته انکشاف کړئ دئ.

__ Här förvandlas strömmen **till** likström.

دلته برق په مساوي جریان بدلیږي.

__ Han valdes **till** ordförande.

دی د امر په توګه انتخاب سو.

__ De längtade **till** Italien.

دوی په اټالیا پسې دیغ سوه.

د- *till* تر ځینو اسمونو د مخه لکه:

__ Detta har varit **till** hjälp för mig.

دغه زما سره د مرستي د پاره دئ.

__ Jag känner honom **till** namnet.

زه دی په نامه پېژنم.

__ Jag vill dit **till** varje pris.

په هر قیمت چي وي زه هلته ځم.

__ De går **till** bords.

دوی مېز ته کښېني.

__ **Till** lands tar resan fyra dagar.

تر مځکي پوري سفر څلور ورځي غواړي.

__ Det är en bekant **till** mig.

زما یو شناخته دئ.

__ Köp boken **till** mig.

آ کتاب ماته را رانیسه.

<u>*under*</u>

الف۔ *under* د وخت د پاره لکه:

__ Det ägde rum **under** 1700 talet.

په اولسمه پېړۍ کي پېښه سوه.

__ **Under** dagen är han aldrig hemma.

په ورځ کي دی هیڅ کور نه وي.

__ Det hände **under** kriget.

د جنګ په وخت کي پېښه سوه.

__ Det var **under** Gustav III : s regering.

د دریم ګوستاف د حکومت په جریان کي وو.

__ De levde helt isolerade där **under** två månader.

دوی هلته دوې میاشتي بېخي جلا ژوند کاوه.

__ **Under** julen var han tvungen att arbeta.

په یول کي دی مجبوره وو چي کار و کړي.

ب۔ *under* د ځای د پاره لکه:

__ Hunden låg **under** sängen.

سپی تر کټ لاندي پروت دئ.

١٠٤

__ Det är **under** noll idag, för det är tre minusgrader.

نن درجه تر صفر کښته ده ، ځکه چي منفي درې درجي دي.

__ Jag ska bara ringa till kontoret; **under** tiden kan du väl ta bilen ur garaget.

زه به دفتر ته تليفون وکړم ؛ تر هغه وخته ته کولای سې چي د ګاراج څخه موټر را وباسې.

utan

__ Han kom **utan** sin hund idag.

دی نن بېله خپل سپي څخه راغئ.

__ Vi är alltid **utan** pengar i slutet av månaden.

موږ هر وخت د مياشتي په پای کي بې پيسو يو.

utom

الف- *utom* د ځای د پاره لکه:

__ Han var **utom** synhåll.

دی د سترګو تر ديد وتلي دی.

ب- *utom* د استثنا په توګه لکه:

__ Alla **utom** han hade kommit.

بېله ده څخه نور ټوله راغلي وه.

vid

الف- *vid* د ځای د پاره لکه:

__ Västervik ligger **vid** Östersjön.

ويسترويک د استرښن سره پروت دئ.

١٠٥

__ Vi möts **vid** stationen.

موږ د سټېشن سره ملاقات سره کوو.

__ Hon läser **vid** universitet.

دا په پوهنتون کي درس وايي.

ب- *vid* د وخت د پاره لکه:

__ Kom **vid** tio tiden.

د لسو بجو په شاو خوا کي راسه.

__ **Vid** 40 års ålder blev han statsminister.

د څلوېښت کلنۍ په شاو خوا کي دی صدر اعظم سو.

__ **Vid** den tiden var han frisk.

په دغه وخت کي دی جوړ وو.

__ Olyckan hände **vid** slutet av resan.

پېښه د سفر په اخر کي و سوه.

__ Han reste hem **vid** en olämplig tillfälle.

دی کور ته پر یوه نا مناسب وخت ولاړ.

ج- *vid* تر ځینو اسمونو وروسته لکه:

__ Han var van **vid** bilen.

دی د موټر سره عادي وو.

د - *vid* تر ځینو فعلونو وروسته لکه:

__ Du vänjer dig snart **vid** hennes dålig humör.

ته ژر د دې د بد خوی سره ځان عادي کوې.

åt

الف- *åt* د ځای د پاره لکه:

__ **Åt** vilken håll for bilen?

کومي خوا ته موټر ولاړ؟

__ Den for **åt** norr.

د شمال خوا ته ولاړ.

ب- *åt* د غیر مستقیم مفعول indrirekt objekt د پاره لکه:

__ Köp boken **åt** mig.

کتاب زما د پاره را نیسه.

ج- *åt* تر ځینو فعلونو وروسته لکه:

__ Han skrattade **åt** henne, för hon ägnade sig bara **åt** sin hund.

ده پر دې و خندل ، ځکه چي دې یوازي ځان د سپي سره اخته کړئ وو.

__ Hon gladde sig **åt** danskvällen.

دې د اتڼ شپې ته ځان خوشاله کړ.

Över

الف- *över* د ځای د پاره لکه:

__ Han bor i våningen **över** oss.

دی تر موږ یو منزل پورته اوسیږي.

__ Barnen sprang **över** gatan.

کوچنیانو پر سړک و ځغستل.

__ Det är **över** noll idag.

تر صفر درجې ګرمي ده نن.

ب- *över* د ډېروالي د پاره لکه:

__ Huset är **över** 300 år gammal.

آ کور (تعمیر) تر درې سوه کاله زوړ دئ.

__ Klockan är **över** elva.

بجې تر یوولس تیري دي.

__ De var inte **över** 50 personer.

دوی تر ۵۰ تنه ډېر نه وه.

ج- *över* تر ځینو صفتونو وروسته لکه:

__ Hon blev glad **över** presenten.

دا په سوغات خوشاله سوه.

__ Jag är ledsen **över** ditt beteende.

زه ستا په سلوک خواشینئ یم.

د - *över* تر ځینو فعلونو وروسته لکه:

__ Flickan gladde sig **över** betyget.

نجلۍ په نمرو ځان خوشاله کړ .

__ Hela tiden klagade han **över** sin tandvärk.

ده ټوله وخت خپل د غاښ د درد څخه شکایت کاوه.

دوهم- **Sammanställda prepositioner** مرکبې د ربط کلمې: لکه

Grupp a

För – sedan

För – skull

Exempel : Han kom till Sverige **för** två år **sedan** .

دی سویډن ته دوه کاله د مخه راغئ.

Kan du riga henne **för** min **skull** ?

ته کولای سې چي زما په خاطر دې ته تلیفون و کړې ؟

Han kom **för** min **skull** .

دی زما په خاطر راغئ.

Grupp b

د ربط دغه کلمې داسي جوړي سوي دي چي:

۱ـ د ربط یوه ساده کلمه + اسم + د ربط یوه ساده کلمه

I stället för

Med anledning av

På grund av

Till följd av

Vid sidan om

I fråga om

Med hänsyn till

Till höger om

Till vänster om

Med undantag av

۲ـ د tack vare سره

۳ـ

i och med

från och med (= fr. o . m.)

till och med (= t. o. m.)

Exempel :

Hon kom hit **med anledning av** bröllopet .

دا دلته د واده په خاطر راغله.

Joakim hann läsa fem böcker **i stället för** en **på grund av** att han läste mycket fort .

یو اکیم د یوه کتاب پر ځای پنځه کتابونه و لوستل د دې سببه چي ده ډېر ژر و لوستل.

Bokhyllan står **till höger om** skrivbordet.

د کتابو الماری د مطالعې د مېز ښي خوا ته ولاړه ده.

Hon klarade provet **tack vare** sin stora ambition.

دا په ازموینه کي بریالۍ سوه ، شکر دئ چي دې ډېره غوښتنه درلوده.

Du skall läsa **till och med** sidan 12.

دا باید تر دولسم مخ پوري ولولي.

دریم ـ هغه د ربط کلمې چي د فعل ، صفت او یا اسم څخه جوړ سوي وي:

۱ـ

Angående

Beträffande

Oavsett

Rörande

Enligt

Jämte

Medelst

۲ـ bortsett från

Exempel: Man gjorde en utredning **angående** behovet av daghem i staden.

سړي یوه کتنه و کړه د یوه وړکتون د ضرورت په هکله په آ ښار کي.

Enligt väderraporten skall det bli fint väder i morgon.

د هوا د رپورټ له مخي سبا به ښه هوا وي .

۱۱۰

TV – programmet igår var utmärkt **bortsett** från ett tråkig föredrag.

د پرون ورځي د ټېوي پروګرام ډېر ښه وو ببله دې څخه چي بيان يې په نظر کي و نيسو.

د جملې جوړښت Ordföljd

په سويډني ژبه کي جمله يو خاص جوړښت لري. په خبريه جمله کي هر وخت (لومړی فعل) په جمله کي دوهم ځای لري. د دې مانا داده چي کله کله په جمله کي دوه فعلونه موجود وي لکه:

Jag kan åka till Stockholm i morgon.

زه سبا ستوکهولم ته ځم. د جملې دغه جوړښت په سويډني کي د rak ordföljd په نامه ياديږي.

دغه جمله کېدای سي چي پر څو ډوله و ليکل سي لکه:

1 - I morgon kan jag åka till Stockholm.

2 - Till Stockholm kan jag åka i morgon.

په لومړۍ جمله کي وخت چي I morgon دئ د جملې سر ته راغلئ دئ او kan چي په جمله کي لومړی فعل دئ پر دوهم ځای راغلئ دئ. په جمله کي دوهم فعل åka دئ.

په دوهمه جمله کي ځای چي Till Stockholm دئ د جملې سر ته راغلئ دئ او kan چي په جمله کي لومړی فعل دئ بيا هم دوهم ځای لري.

د جملې دغه ډول جوړښت د omvänd ordföljd په نامه ياديږي.

په ياد يې و لرئ چي که يو huvudsats په subjekt (فاعل) شروع سي نو جمله

rak ordföljd لري او که په يوه adverbial يا مفعول يا يوه bisats شروع سي نو

Omvänd ordföljd لري لکه په پورته مثال کي .

دلته لاندي به د huvudsats د مختلفو جملو جوړښت و لولئ

I. Hon ska träffa honom **i morgon.** (tidsadverbial)	**I morgon** ska hon träffa honom.
Han köper **Expressen** (objekt) på hemvägen.	**Expressen** köper han på hemvägen.
Jag vill inte bo **där**.	**Där** vill jag inte bo.
(hs) Jag stannar hemma, **om du vill**.	(bs) **Om du vill**, stannar jag hemma. (hs)
(hs) Jag ska stanna hemma, **om du vill**.(bs)	(bs) Om du vill, ska jag stanna hemma. (hs)
Han frågade: "**Kan du komma?"**	**" Kan du komma?"**, frågade han.
II. **Påstående**	**Fråga**
Han bor här. Här bor här.	Bor han här?
Han bor inte här. Här bor inte han.	Bor han inte här?
Han ska komma idag. Idag ska han komma.	Ska han inte komma idag?
	Varför kommer hon? **Vem** kommer där borta? **Vad** ska hända i morgon?
III. **Uppmaning**	
Kom nu! Sätt dig på stolen! Sätt du dig här och lugna dig!	

د تابع جملې Bisats جوړښت

په ليکنه کي بايد bisats د huvudsats سره يو ځاى راسي. Bisats په يوازي ډول کومه مانا نه لري بلکي د Huvudsats يوه برخه ده ياني bisats د huvudsats يوه شرحه کوونکې برخه ده لکه:

Exempel:

(hs) Karl gick.

(hs) Karl gick, när klockan var sju. (bs)

Bisats د Huvudsats په باره کي څه وايي . مثلا په لوړ مثال کي Bisats د هغه وخت په هکله خبري کوي کوم چي Karl ولاړئ.